# حنفيان توحيد خپـــروي

تأليف:

فهد بن ناصر ابراهيم الجديد

الأحناف ينشرون التوحيد

بشتو

# حنفیان توحید خپروي.

دکتور فهد بن ناصر ابراهیم الجدید.

د چاپ حقوق محفوظ دي

مګر که څوک يې چاپول، او مفت تقسیمول غواړي پغیر له دې چې څه شي ترې لري کړي.

او یا پکې څه شي زیات کړي او یا يې پکې بدل کړي، نو هغه ته اجازه شته، او الله تعالی دې ورته د خیر بدلې ورکړي.

شركاء التنفيذ:

دار الإسلام جمعية الربوة رواد الترجمة المحتوى الإسلامي

يتاح طباعة هذا الإصدار ونشره بأي وسيلة مع الالتزام بالإشارة إلى المصدر وعدم التغيير في النص.

Telephone: +966114454900
ceo@rabwah.sa
P.O.BOX: 29465
RIYADH: 11557
www.islamhouse.com

# سریزه:

په لومړیو درېیو غوره پېړیو کې مسلمانانو په سمې عقیدې ژوند کولو څرنګه چې د الله په کتاب او د هغه د پېغمبر صلى الله عليه وسلم په سنتو کې راغلې ده. او د دې کار اړتیا نه لیدل کېدله چې دغه عقیدې ته ځانګړي تعریفونه جوړ کړي. **(غوره خلک زما د پېړۍ دي، بیا له هغوی وروسته، بیا له هغو وروسته، بیا به داسې خلک راشي چې د یو کس ګواهي به یې له سوګند مخکې وي، او سوګند به یې له ګواهۍ مخکې وي). [بخاري روایت کړی]**. او له درېیو غوره پېړیو وروسته د باطل خاوندان راغلل، او د سمې لارې څخه یې د اسلامي امت د عقېدې په بدلولو پیل وکړ، او شیطان ورته بدعې کړنې ښایسته کړې نو ګومان یې کولو چې دا نېکې کړنې دي، او د نېکانو په قبرونو یې ګمبزې جوړې کړې، بیا له هغوی وروسته داسې خلک راغلل چې د دغو نېکانو د قبرونو ترڅنګ یې الله را بللو، بیا د مسلمانانو په یې لارۍ کې همدغه حال روان و، تردې چې نور خلک راغلل او هغوی دا ګومان وکړ چې د دغو قبرونو والا داسې د الله دوستان دي چې په سختیو او کړاوونو کې یې رابلل اړین دي، همدغه مهال اسلامي امت ته شرک دننه شو. لکه څنګه چې پر دغه خبر مصطفى صلى الله عليه وسلم خبر ورکړی. په هغه حدیث کې چې ثوبان رضي الله عنه روایت کړی، وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: **(او زه چې د خپل امت په اړه ډېره وېره لرم هغه له هغو لار ورکوونکو امامانو څخه ده، او ژر به زما له امته ځینې قبیلې د بتانو عبادت وکړي او ځینې قبیلې به زما له امت څخه له مشرکانو سره یوځای شي). صحیح ابن ماجه.**

سره له دې چې داسې لار ورکوونکو مشرانو (امامانو) شتون درلود چې په اسلامي امت کې یې شرک خپور کړ، خو بل پلو ته بیا داسې نېک امامان هم وو چې د دین حکمونه یې له هغه څه څخه سم او تصحیح کړل چې پر هغو پورې د شرک شبهې تړل شوې وې، او د الله تعالی لپاره یې خالص یو والی خپور کړ. له دغو اصلاح کوونکو امامانو څخه یو هم د احنافو هغه امامان وو، کومو چې زیاتې هڅې او بریالۍ کړنې ترسره کړې؛ نو د خلکو ترمنځ یې توحید خپور کړ، له شرک څخه یې خلک ووېرول او تر شرک پورې رسوونکې لارې یې بندې کړې.

د دغو کرښو د لیکونکي لپاره الله اسانه کړه چې د دغې ارزښتناکې رسالې تفصیلي تعریف وړاندې کړي، ترڅو دروند لوستونکی د حنفي علماوو پر هغو هڅو خبر کړي چې د سمې عقیدې په خپرولو او له شرک څخه په وېرولو کې یې ترسره کړې دي.

01/04/1442هـ

# لومړی څپرکی :بنسټیز تعریفونه :توحید )یووالی ( عبادت او شرک

توحید او عبادت دوې مترادفې اصطلاح ګاني دي چې له هغو دواړو څخه موخه یوازې د الله تعالی بنده ګي کول دي، نو پر مسلمان یې پېژندل او پرې باور کول واجب دي. او شرک د دغو دواړو سره ټکر دی او همدا رنګه پر مسلمان لازم دي چې شرک وپېژني او له هغه څخه په اخته کېدو کې ځان وساتي. او په دغه څپرکي کې به ژر ده چې د توحید، عبادت او قبرونو سره د شرک پېژندګلوي بیا پر هغوی رد او د حنفي علماوو په اند د هغو تصحیح په هغه ډول بیان شي لکه څنګه چې رسولانو علیهم الصلاة و السلام د الله له لوري راوړي دي.

## لومړی بحث :توحید

لغت پوهانو توحید داسې تعریف کړی: چې هغه پر یو شي دا حکم کول دي چې هغه یو دی (١).

### د قبر پرستو لخوا د توحید تعریف:

قبر پرستۍ ته بلونکو د توحید لپاره یو تعریف بیان کړی او هغه یې یوازې د الله په کړنو کې بند کړی دی او د بندګانو کړنې یې هغو ته ندي ور زیاتې کړې. د دغو قبرونو والا له تعریفونو څخه:

توحید: باور لرل پر دې چې یوازې الله جل جلاله پیدا کوونکی او تدبیر والا دی او دا چې یوازې الله جل جلاله تر سره کوونکی دی.(٢).

توحید: دادی چې الله په خپل ذات کې یو دی هغه لره هیڅ برخه لرونکی نشته، او په خپلو صفتونو کې یو دی هغه لره هیڅ سیال نشته، او په خپلو کړنو کې یو دی هغه لره هیڅ شریک نشته (۳)

توحید: پرته له شکه الله په خپل ذات کې یو دی، په خپلو صفتونو کې یو دی، او د خپلو جوړ کړل شوو شیانو لپاره پیداکوونکی دی (۴).

توحید: د الله لپاره د کایناتو په پیدایښت کې په ذات او فعل کې د یووالي ثابتول، او دا چې د ټولو کایناتو لپاره مرجع دی، او د هرې موخې پایله دی، او د نبي صلی الله علیه وسلم د رالېږلو موخه همدغه وه (۵)

### د حنفي علماوو په اند د توحید تعریف:

حنفي علماوو هڅه کړې او د توحید لپاره یې یو هر اړخیزه تعریف بیان کړی چې د پیداکولو، روزی ورکولو، تدبیر نیولو، راژوندي کولو، مړه کولو، ګټه او ضرر رسولو اړوند د الله افعالو ته شامل دی، او د بندګانو د دعا، سجدې، رکوع، مرستې غوښتلو، ذبحې کولو او نذر منلو اړوند افعالو ته. معنا دا چې الله په خپلو کړنو کې یو ګڼل، نو له الله پرته بل څوک پیداکول نه کوي، او له الله پرته څوک روزي نه ورکوي، او کار یوازې د الله په تدبیر ترسره کیږي، او له الله پرته نه څوک ژوندي کول کوي او نه مړه کول. همدارنګه د بندګانو په کړنو کې د الله یو ګڼل، چې یوازې الله به رابلل کیږي، یوازې الله ته به سجده کیږي، یوازې الله ته به رکوع کیږي، یوازې له الله څخه به په هغه څه کې مرسته او کمک غوښتل کیږي چې له خلکو هیڅوک هم پرې توان نه لري. یوازې د الله لپاره ذبح کیږي، او یوازې د الله لپاره نذر منل کیږي. له دغو علماوو څخه ځینې یې دادي:

"امام الطحاوي (ت ۳۱۲هـ-۹۳۳م) په بیان عقیدة الأئمة الثلاثة للحنفیة کې ویلي دي: یعني ابو حنیفة (ت ۱۵۰هـ-۷۶۷م)، ابویوسف (۱۸۲هـ-۷۹۸م)، اومحمد بن الحسن الشیباني (۱۸۹هـ-۸۰۵م) رحمهم الله – تعالی – د توحید د تعریف په بیانولو سره وایي: (موږ د الله د یووالي په اړه د الله په مرسته په باور کولو سره وایو: پرته له شکه الله یو دی هیڅ شریک نه لري، او نه کوم څه د هغه غوندې دي، نه یې څه شی بې وسې کولای شي او نه له هغه پرته بل څوک د عبادت مستحق شته) (۶).

او امام ولي الله الدهلوي (۱۱۷۶هـ-۱۷۶۲م) وايي، او الفتني يې پيروي کړې ده (۱۳۲۷هـ-۱۹۰۹م): توحيد: د شتون د وجوب د انحصار باور(پدې معنا چې واجب الوجود ذات يوازې يو الله دی)، د اسمانونو، ځمکې او ټولو جواهرو د پيداکولو ځانګړې کول تر الله پاک پورې، د اسمانونو او ځمکې او څه يې چې ترمنځ دي د هغو ټولو چارو سمبالښت تر الله پورې ځانګړي کول، چې له هغه پاک ذات پرته نه څوک رامنځته کوونکی شته، نه پيداکوونکی او نه تدبير نيوونکی، او له هغه جل جلاله پرته بل څوک د عبادت وړ نه دي. (۷)

او ناصري (ت ۶۵۲هـ-۱۲۵۴م)، ابن العز (ت ۷۹۲هـ-۱۳۹۰م)، او قاري (۱۰۱۴هـ-۱۶۰۵م) هم يادونه کړې ده چې: (توحيد دريو شيانو ته شامل دی: د الله ربوبيت (پالنې)، صفتونو او عبوديت (لمانځنې) ته) (۸).

او استاذ ابو الأعلى المودودي[۹] (ت ۱۳۹۹هـ-۱۹۷۹م) ويلي: (د لا اله الا الله معنا دا ده: چې له الله پرته بل څوک د دې وړ نه دي چې خلک يې عبادت وکړي او په پيروۍ او لمانځنه سجده ورته وکړي. نو د دغه نړۍ لپاره يوازې له هغه پرته بل څښتن او واکمن نشته، او هرڅه هغه ته اړ دي، د هغه له مرستې هيڅ چاره نه لري) (۱۰).

## دويم بحث :عبادت

د لغت پوهانو په اند عبادت په پنځو معناوو راځي: عاجزي، ټيټېدل، پيروي، بندګي، ديني مراسم (۱۱).

### د قبر پرستو په اند د عبادت تعريف:

قضاعي (ت ۱۳۳۶هـ-۱۹۱۸م) ويلي: (د شريعت له مخې چې کوم څه په عبادت ونومول شي په هغو کې وسيله نيول او مرسته غوښتل او داسې نور نه راځي، بلکې هيڅ له عبادت سره ورته والی نه لري، ځکه هرڅه چې پر لويي دلالت کوي هغه تر هغه مهاله يې عبادت نه شي کېدلای تر څو د هغه لويۍ د څښتن په اړه د ربوبيت (پالونکي) باور هم نه وي، يا تر هغه پورې د ځانګړو صفتونو څخه د يو صفت باور شتون ونه لري) (۱۲).

او فقي ويلي: (مشرکان ځکه کافران شوي وو او خپلو بوتانو او نا حقه معبودانو ته په سجدو کولو سره له حنفيت (سمې نېغې لارې) څخه وتلي وو، چې هغوی چې چاته

عاجزي کوله د هغو د ربوبیت (پالونکي) باور يې لرلو، او په ګټه او تاوان رسولو کې يې خپلواکه ګڼل، او د الله سره مشيئت (خوښه) يې پکې نافذه بلله -. نو د الله نېکو بندګانو ته داسې درناوی او عاجزي کول چې د یاد شوي باور څخه خالي وي د شریعت له مخې عبادت نه ګڼل کیږي.(۱۳).

او النقوي[۱۴] (۱۲۸۹هـ-۱۸۷۲م) وېلي: (پرته له شکه هغه مسلمانان چې د نبیانو او نېکانو د قبرونو زیارت کوي، د هغو درناوی کوي او هغه ښکلوي او شاوخوا پرې راګرځي، ځانونه پرې موښي، له هغوی څخه د یوه په زړه کې هم دا خبره نه راګرځي چې دغه نبیان او نېکان او یا قبرونه يې معبودان دي چې لمانځل يې واجب دي، او د الله تعالی شریکان دي، او یا له الله پرته پالونکي دي، بلکې هغوی په خپلو زړونو کې بشپړ باور لري چې هغوی د الله داسې درانه بندګان دي چې د هغه د حکمونو پیروي يې کړې او امرونو ته يې غاړه اېښې او د هغه په لار او د کلمې په لوړوالي کې يې خپل ځانونه او مالونه لګولي دي، نو هغوی ته يې خپل جنت ورکړی او په خپل ګاونډیتوب يې نازولي دي، چې له همدې امله هغوی زموږ لخوا د درناوي وړ دي او هغوی د دې وړ دي چې پر وړاندې يې خضوع او عاجزي وشي.بلکې کله چې موږ ته څرګنده شوه چې د الله په وړاندې هغوی د خپلې پیروۍ، عبادت، د هغه پر لارو د تللو او په لاره کې يې د جهاد کولو له امله ځانګړی ځای او مرتبه لري، نو موږ هغوی را بولو چې زموږ لپاره الله را وبولي، چې الله د هغوی د را بلنې له کبله زموږ اړتیا را پوره کړي.او په دې کې د کفر او شرک هیڅ خبره نشته. (۱۵)

### د حنفي علماوو په اند د عبادت تعریف:

حنفي علماوو د عبادت د تعریف لپاره د اصطلاحاتو یوه ټولګه بیان کړې، چې موږ به ورڅخه د ځینو یادونه وکړو:

عبادت: داسې ډول باور او شعور دی چې معبود له اسبابو پورته په پوهه او تصرف کې یو غیبي واک لري، چې پر هغو اسبابو ګټې او زیان اندازه کوي، نو هره بلنه، ستاینه او درناوی چې له دا ډول باور څخه رامنځته کیږي هغه عبادت دی (۱۶).

او عبادت: یو ډول عاجزي ده چې وروستۍ پولې ته رسیږي، او د معبود له عظمت څخه په زړونو کې را پیداکیږي (۱۷)

عبادت: د هغه څه ترسره کول چې الله او د هغه رسول پرې امر کړی، او د هغه څه پرېښودل چې الله او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم ترې منعه کړې ده د الله د رضاء او آخرت د ترلاسه کولو په موخه (۱۸)

عبادت: عبارت له هغه څه څخه دی چې بشپړ محبت، عاجزي، وېره، هیله مندي او پیروي سره را جمع کوي (۱۹).

عبادت: د عبادت کوونکي له خپل معبود سره تر وروستي بریده محبت، سره له دې چې عبادت کوونکی خپل معبود ته عاجزه وي.(۲۰)

د دغو یادو شوو اصطلاحاتو په ترڅ کې حنفي علماء پر دې ټینګار کوي چې عبادت پر دریو بنسټیزو رکنونو ولاړ دی، چې هغه: محبت، هیله مندي او وېره ده. او د قبرونو والا د خپلو مړو په رابللو او له هغوی څخه په مرسته کې لکه د هغوی وینا: اې علي، اې حسینه، اې غوثه، اې شیخه، ټول هغه عبادتونه دي چې یوازې یو بې نیازه الله ته ترسره کېدلای شي، او څوک چې له هغه پرته نبیان او نېکان رابولي، نو پرته له شکه چې له الله سره یې بل څوک شریک کړل.

## درېیم بحث :شرک

لغت پوهانو شرک تعریف کړی او ویلي یې دي: د یو یا زیاتو شیانو له بل سره په حسي یا معنوي امر کې شریکول.

### د قبر پرستو په اند د شرک تعریف:

قبر پرست د شرک په تعریف کې له سمې لارې اوښتي لکه څنګه چې د توحید په تعریف کې له سمې لارې اوښتي، او د هغوی بلونکو ګومان کړی چې شرک په ربوبیت (پاللو) کې بند دی. او ویلي یې دي: شرک دادی: چې بنده له الله سره په پیدایښت، روزي ورکولو، تدبیر نیولو، ژوندي کولو او مړه کولو کې بل څوک شریک کړي، او په هغه کې د ګټې او زیان په رسولو کې د خپلواکۍ باور ولري.

نو له الله سره هره هغه معامله چې له دا ډول باور سره مل نه وي هغه عبادت نه دی او نه شرک دی، که څه هم هغه سجده کول، مرسته غوښتل، نذر منل، ذبحه کول او داسې نور وي. او د شرک په تعریف کې دغه د قبر پرستو د عقیدې خلاصه ده (۲۱).

## د حنفي علماوو په اند د شرک تعریف:

حنفي علماوو شرک تعریف کړی. هغوی وايي

"امام ابن أبي العز الحنفي (ت ۷۹۲هـ-۱۳۹۰م) – رحمه الله -: د نېکانو په اړه هغه باور دی چې هغوی د الله په وړاندې سپارښتنه کوونکي دي، او الله ته هغوی د یوې وسیلې په توګه نیول کیږي، او د هغوی پر هغه او دغه بنسټ عبادت ترسره کول په اصل کې د عربو شرک دی، ځکه هغوی د بتانو په اړه دا باور نه لرلو چې هغه له الله سره په پیدایښت او تدبیر کې شریکان دي، بلکې هغوی د الله پاک د ربوبیت د یووالي عقیده لرله (۲۲)

او امام ولي الله دهلوي رحمه الله ( ت ۱۱۷۶ھ ۱۷۶۳) وېلي: (د شرک حقیقت دا دی: چې یو انسان د ځینو لویو انسانانو په اړه داسې عقیده ولري چې حیرانوونکي نښې لکه کرامتونه، زیات عبادتونه او داسې نور، چې له یو چا څخه صادریږي دا ځکه ترې صادریږي چې هغه د بشپړتیا له صفتونو څخه په یو صفت سره متصف دی: چې په انساني جنس کې ندی پېژندل شوی، بلکې هغه تر الله پورې ځانګړی دی، چې له هغه پرته په بل چا کې نه موندل کیږي مګر دا چې هغه خپل الوهیت بل چا ته ورکړي، او دېته ورته نور خرافات چې دغه باور لرونکی پې ګومان کوي، لکه څنګه چې راغلي مشرکانو به دغه تلبیه ویله: "لبيك اللهم لبيك لا شريك لك إلا شريكاً هو لك تملكه وما ملك" "تاته حاضر یم اې الله تاته حاضر یم، تا لره شریک نشته مګر څوک چې درسره شریک دی ته د هغه او د هغه د ملکیت څښتن یې" او د هغه په وړاندې به یې تر وروستۍ پولې پورې عاجزي کوله، او د هغه سره به یې داسې تعامل کولو لکه الله تعالی سره د عبادت تعامل.(۲۳)

او امام شاه عبدالقادر دهلوي (ت ۱۲۳۰ھ ۱۸۱۵م) وايي: (شرک دا دی: چې یو څوک د بل چا په اړه د الله تعالی له صفتونو څخه د یو صفت عقیده ولري، لکه پر هرڅه د پوهې لرلو، یا د هرڅه ترسره کولو عقیده او یا دا عقیده چې د فلاني په واک کې خیر او شر دي، یا له الله پرته د بل چا داسې درناوی وکړي چې یوازې الله تعالی د هغه وړ وي لکه سجده کول، د اړتیا پوره کولو غوښتنه، او یا دا باور لرل چې فلانی د هر ډول تصرف اختیار لري (۲۴).

او د ابو الحسن ندوي څخه رانقل دي: (پوه شه چې شرک يوازې دا نه دی چې انسان، يوڅوک له الله سره برابر کړي او هغوی دواړه پرته له کوم توپير څخه يو ډول وګڼي، بلکې د شرک حقيقت دا دی: چې انسان د الله هغه ځانګړي خصلتونه او کارونه چې الله د ځان د لمانځلو لپاره شعار ګرځولي دي، د بل چا لپاره ثابت کړي، لکه يو چاته سجده کول، د هغه پر نوم ذبحه کول، د هغه لپاره نذر منل، په سختيو کې له هغه مرسته غوښتل، او دا عقيده لرل چې هغه په هرځای کې حاضر او ليدونکی دی، د هغه لپاره په کايناتو کې د تصرف اثبات، پر دغو ټولو شرک ثابتيږي او انسان پرې مشرک ګرځي (٢٥)

او پردې خبره خبرول مناسب دي چې د اهل سنت او جماعت علماء چې د هغوی له ډلې څخه حنفي علماء هم دي تر هغه وخته د هيچا په اړه د کفر حکم نه کوي چې د اسلام له ماتوونکو څخه يې کوم ماتوونکی ترسره کړی وي مګر وروسته تر دې چې د دليل له مخې پر هغه ثابت شي.

علامه محمود شکري آلوسي (ت١٣٤٢هـ١٩٨٢م) ويلي: (پرته له شکه مسلمان بلکې ټول خلک کله د شرک په ډولو کې اخته کيږي په داسې حال کې چې هغه نه پوهيږي، نو اړينه ده چې پرې خبر او پوه کړل شي تر څو توبه وباسي، او د هغه د ناپوهۍ له امله د کفر حکم نه پرې کيږي، تر څو حجت بشپړ او دليل څرګند شي) (٢۶).

او همدارنګه وايي: (بېشکه د توحيد څښتنان يوازې هغه څوک کافر بولي چې الله تعالی او د هغه رسول صلی الله عليه وسلم د هغه د کفر حکم کړی وي) (٢٧)

## څلورم بحث :اوسني قبرپرست له پخوانيو بت پرستو ډېر سخت مشرکان دي.

امام محمود آلوسي د احنافو د بغداد مفتي (ت١١٧٠هـ ١٧٥٧م)، د الله تعالی د دغې وينا

﴿...دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ ...٢٢﴾ [يونس: 22]

﴿دَعَوْا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ .﴾ (یونس: ۲۲) په اړه په خپل تفسیر کې وایي: (دغه آیت پر دې خبره دلالت کوي چې پخوانیو مشرکانو هم پدغه ډول د سختۍ په حالت کې له الله تعالی پرته بل څوک نه رابلل او ته هم پردې پوهېږې چې د نن ورځې قبرونو والا چې کله له خطرناکې پېښې، یا لویې ستونزې سره په وچه او دریاب کې مخ شي، نو هغوی هغه څوک رابولي چې زیان او ګټه نه شي رسولای، نه اوري او نه څه ویني، څوک خضر او الیاس رابولي، څوک بیا د امت له مشایخو څخه کوم شیخ رابولي، او هیڅوک به ونه ویني چې خپل الله په عاجزۍ او را بلنه کې ځانګړی کړي، او هیڅ په زړه کې یې نه راګرځي، که چېرې هغوی یوازې الله تعالی را وبولي له دغو ټولو کړاوونو څخه به وژغورل شي، ستا دې پر الله قسم وي: راته ووایه کومه یوه ډله له دغو دوو ډلو څخه (قبرپرستو والا او بوت پرستو څخه) له دغه پلوه (د سختیو پر مهال د مرستې په غوښتنو کې) زیات په سمه لار دي؟؟؟، او کوم یو له دواړو بلونکو څخه (هغه مشرک چې په سختیو کې له الله څخه مرسته غوښتونکی دی، او هغه قبرپرست چې په سختیو کې له مړي څخه مرسته غوښتونکی دی) د وینا له پلوه سم دی؟؟؟. او یوازې الله ته به د زماني له هغو خلکو څخه شکایت کوم چې د ناپوهۍ باد پرې چلېدلی دی او په هغو کې د لار ورکۍ څپې پرې راخپرې شوې دي، او د شریعت کښتۍ یې ورته ځېرې کړې ده، او له الله پرته له نورو څخه مرسته غوښتل یې د خلاصون لاره ګرځولې ده، او د عارفانو لپاره یې پر نېکیو امر کول سخت کړي دي او له ناروا څخه د منع کولو لپاره یې یو شمېر اوازونه راپورته کړي دي (۲۸).

او علامه محمد سلطان معصومي خجندي (ت ۱۳۷۹هـ ۱۹۵۹م) رحمه الله وایي: (پرته له شکه دغه د قبرونو والا د مړو په اړه د خپل باور وروستي برید ته رسېدلي دي، چې مشرکان هم د خپلو بتانو په اړه هغه باور ته نه وو رسېدلي، او هغه دا چې د جاهلیت د زماني خلکو ته به چې کله زیان ورسېد، یوازې الله به یې رابللو، لکه څنګه چې الله په یوشمېر ایتونو کې له هغوی څخه حکایت کوي، پر خلاف د هغو خلکو چې د مړو په اړه څه ډول باور لري، ځکه پر هغوی چې کله ستونزې راشي، نو خپل مړي را بولي، او د هغوی لپاره نذرونه مني، او ووایه څوک دی چې په دغه ډول حالت کې یوازې له الله پاک څخه مرسته غواړي (۲۹)

# دویم څپرکی :د ربوبیت او الوهیت توحیدونو تر منځه توپیر:

پر مسلمان واجب دي چې د ربوبیت توحید (د الله د کړنو) او الوهیت توحید (د بندګانو د کړنو) ترمنځ پر توپیر پوه شي ترڅو د الله عبادت له شرعي لارې سره سم اداکړي.

## لومړی بحث :د حنفي علماوو له نظره د توحید الوهیت اهمیت:

امام ابن أبي العز (ت ۷۹۲هـ - ۱۳۹۰م) ویلي: پوهه شه چې توحېد (د بنده ګۍ یا الوهیت توحید)

د رسولانو لومړنۍ بلنه ده.

او د لارې لومړنی منزل.

او لومړنی هغه مقام دی چې الله جل جلاله ته تلونکی پکې دریږي.

الله تعالی فرمایي:

﴿لَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوۡمِهِۦ فَقَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓ ... ٥٩﴾ [الأعراف: 59]

([پرته له شکه موږ نوح خپل قوم ته يې ولېږلو، نو هغه وويل: اې زما قومه! د الله عبادت وکړئ تاسو لره له هغه پرته بل معبود نشته]. (د الاعراف سورت: ۵۹) او هود علیه السلام خپل قوم ته وویل:

﴿۞ ... ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓۚ ...﴾ [الأعراف: 65]

(د الله عبادت وکړئ تاسو لره له هغه پرته بل معبود نشته) (د الاعراف سورت: ۶۵) او صالح علیه السلام خپل قوم ته وویل:

﴿... ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓ ...﴾ [الأعراف: 73]

(د الله عبادت وکړئ تاسو لره له هغه پرته بل معبود نشته) (د الاعراف سورت: ٧٣) او شعیب علیه السلام خپل قوم ته وویل:

﴿... ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓ ...﴾ [الأعراف: 85]

(د الله عبادت وکړئ تاسو لره له هغه پرته بل معبود نشته) (د الاعراف سورت: ٨٥) او الله تعالی فرمايي:

﴿وَلَقَدۡ بَعَثۡنَا فِي كُلِّ أُمَّةٖ رَّسُولًا أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجۡتَنِبُواْ ٱلطَّٰغُوتَۖ ...﴾ [النحل: 36]

(او يقيناً يقيناً مونږ په هر يو امت کې يو رسول لیږلی و (په دې سره) چې تاسو د الله عبادت کوئ او له طاغوت نه ځان وساتئ). (د النحل سورت: ٣٦) او الله تعالی فرمايي:

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِيٓ إِلَيۡهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدُونِ﴾ [الأنبياء: 25]

(او له تا مخکې مو کوم رسول نه دی لیږلی مګر هغه ته مو وحي کړې چې له ما پرته بل الله نشته، نو یوازې زما عبادت وکړئ) (د الانبيآء سورت: ٢٥) او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: **[ماته امر شوی چې تر هغه له خلکو سره وجنګېږم تر څو هغوی دا شاهدي ورکړي چې له الله پرته بل په حقه معبود نشته او دا چې محمد د الله رسول دی]. (البخاري: ١٧/ ١. مسلم: ٥٣/ ١)**

او امام ابوالسعود العمادي (٣١) (ت ٩٨٢هـ ١٥٧٤م) وايي: (او هغوی ته امر نه و شوی) یعني حال دا چې دغه کافرانو ته يې په خپل کتاب کې امر نه و شوی (مګر دا چې یوازې د یو الله تعالی عبادت وکړي)، د هغه امر ومني او د هغه پر خلاف د بل چا امر ونه مني، ځکه دا د هغه له عبادت سره ټکر کار دی، ځکه ټول اسماني کتابونه په دې خبره په یوه خوله دي (٣٢)

او شيخ غلام (٣٣) (ت ١٤٠٠هـ ١٩٨٠م) وايي: (پرته له شکه یهودو او نصاراوو خپل مشايخ او امامان د رب په توګه ونیول، چې له الله پرته يې د هغوی عبادت کولو، سره له

دي چې په تورات او انجيل کې هغوی ته امر شوی وو چې يوازې الله پاک ولمانځي، څکه په ټولو کايناتو کې تصرف کوونکی، د اړتياوو پوره کوونکی، د ستونزو د له منځه وړلو لپاره را بلونکی او مرسته کوونکی او د ګټو لپاره را غوښتونکی له هغه پرته بل ذات نشته. (۳۴).

او انور شاه کشميري (۳۵) (ت۱۳۵۲هـ ۱۹۳۳م) وايي: (پوه شه د اخلاص کلمه له ذات څخه په شريک نيولو کې پرته په عبادت کې د شريک نيولو د له منځه وړلو لپاره ده، او پر همدغه د عبادت د توحيد بنسټ ايښودل شوی دی او د نبيانو عليهم السلام بلنه پر همدغه بنسټ ولاړه ده، څکه د ربوبيت نټه کوونکي چې له الله سره يې په ذات کې شرک کولو ډېر کم وو، نو له دغې کلمې (لا اله الا الله) څخه موخه يوازې پر هغو خلکو رد کول دي چې هغوی په عبادت کې له الله سره شريک نيسي (نه په ربوبيت کې) لکه څنګه چې الله له هغوی څخه حکايت کوي).

﴿... مَا نَعۡبُدُهُمۡ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى ٱللَّهِ زُلۡفَىٰٓ ...٣﴾ [الزمر: 3]

(موږ يې يوازې له دې امله لمانځو چې الله ته مو څه نېږدې کړي) (د الزمر سورت: ۳) معنا دا چې: الله يو دی، او دغه الله ته نېږدې کوونکي دي، پر الله پناه، او الله تعالی فرمايي:

﴿فَإِذَا رَكِبُواْ فِي ٱلۡفُلۡكِ دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ ... ٦٥﴾ [العنكبوت: 65]

(کله چې هغوی په کښتۍ کې سپاره شول، الله يې په داسې حال کې را بللو، چې هغه لره يې دين ځانګړی کولو) (د العنکبوت سورت: ۶۵) او الله تعالی فرمايي:

﴿إِنَّهُمۡ كَانُوٓاْ إِذَا قِيلَ لَهُمۡ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ يَسۡتَكۡبِرُونَ٣٥﴾ [الصافات: 35]

(هغوی داسې وو چې کله به ورته وويل شول، چې له الله پرته بل معبود نشته، هغوی به لويي کوله) (د الصافات سورت: ۳۵) او ويې نه ويل: " چې هغوی به نټه کوله" نو له دې څخه څرګنده شوه چې هغوی يومخ له دغې کلمې څخه نټه کوونکي نه وو، څکه لويي کول وروسته له پوهې وي، او دا خبره مخکې تېره شوه چې لومړی د کفر د له منځه وړلو لپاره رالېږل شوی نبي نوح عليه الصلاة و السلام دی، له هغه مخکې يوازې ايمان و، بيا ابراهيم عليه الصلاة والسلام راغی او د نمرود له قوم سره مخ شو، چې هغوی په

عبادت کې شرک کولو، نو هغه په بشپړ ډول او تفصیل سره پر هغوی رد وکړ، چې د همدغه ابراهیمي ملت پر بنسټ په عبادت کې د شرک له منځه وړل راغلل (۳۶).

## دویم بحث :د قبر پرستو د ربوبیت او الوهیت په یو وخت کې د یووالي عقیده.

د قبر پرستو دعوتګران ګمان کوي چې د ربوبیت او الوهیت توحید یو دی او ترمنځ يې هیڅ توپیر نشته. او دا د هغه توحید له حقیقت څخه خرګنده ناخبري ده چې رسولان علیهم الصلاة والسلام ورسره د الله له لوري راغلي دي، چې هغه د الوهیت توحید دی.

او د قبر پرستو له ویناوو څخه دا هم ده چې د رب او اله معنا یوه ده او د اله معنا همدغه رب ده.

او د قبرونووالا له بلونکو څخه هغه څوک هم دي چې له دا ډول شبهې سره راوړي (۳۷).

ابن جرجیس (۳۸) (ت ۱۲۹۹هـ ۱۸۸۲م ) وايي: (د رب او اله معنا او حاصل یو دی) او وايي: (پرته له شکه اله او رب سره یوه معنا لري) او (اله همغه د رب په معنا دی) [۳۹].

او دحلان[1](ت ۱۳۰۴هـ ۱۸۸۷م) په موحدینو علماوو باندې په خپل برید کې وايي: (هغوی چې توحید دوه ډوله ګرځولی: د ربوبیت توحید او الوهیت توحید دا خبره باطله ده، ځکه د ربوبیت توحید همغه د الوهیت توحید دی) او همدارنګه وايي: هغوی وايي: چې توحید پر دوه ډوله دی: د ربوبیت توحید او د الوهیت توحید، او پردې خبره يې د مسلمانانو پر کافر ګڼلو لاس پورې کړی دی. (۴۰)

"او قضاعي [۴۱] (ت ۱۳۳۶هـ-۱۹۱۸م) وايي: (پرته له شکه د ربوبیت توحید او د الوهیت توحید یو له بل سره لازم دي یو له بل څخه نه په شتون او نه په عقیدې سره بېلیږي).

[1] ۴۰] وګوره: جهود علماء الحنفية: ۱۸۱. وګوره: الدراسة السنية: ۴۰، ۴۱.

او همدارنګه وايي: (نو څوک چې "د لا اله الا الله" کلمه ویونکی وي هغه د الله لپاره د الوهیت او د هغه د ربوبیت دواړو توحیدونو منونکی دی(۴۲)

دجوي چې په (۱۳۶۵ه ۱۹۴۶م) کې تېر شوی وايي: د الوهیت او ربوبیت د توحید ترمنځ ... چا توپیر کړی دی؟ پرته له شکه د دغې اند څښتن ابن تیمیه دی... (۴۳)

## دریم بحث :د حنفي علماوو لخوا پر هغه چا رد چې د ربوبیت او الوهیت توحید یو ګڼي.

او پرته له شکه حنفي علماوو پر دغه ناپوهۍ رد کړی دی، او د ربوبیت توحید، الوهیت او یا د عبادت توحید ترمنځ یې لوی توپیر بیان کړی. له دغو علماوو څخه.

امام طحاوي (ت۳۲۱ه ۹۳۳م) د درېګونو حنفي امامانو د عقیدې په بیان کې وايي: چې ابوحنیفه (ت ۱۵۰ه ۷۶۷م)، ابویوسف (۱۸۲ه ۷۹۸م) او محمد ۱۸۹ه ۸۰۵م) رحمهم الله دي: (موږ د الله د یووالي په اړه د الله په مرسته په باور کولو سره وایو: پرته له شکه الله یو دی هیڅ شریک نه لري، او نه کوم څه د هغه غوندې دي، نه یې څه شی بې وسې کولای شي او نه له هغه پرته بل څوک د عبادت مستحق شته) (۴۴).

فکر وکړه - الله دې درباندې ورحمیږي - د دغو امامانو کلام، هغه وینا: "چې پرته له شکه الله یو دی شریک نه لري" اجمالي توحید دی او د شرک نفي یې ده. د هغوی هغه بله وینا: " چې د هغه غوندې بل څوک نشته" دا بیا د نومونو او صفتونو توحید دی. د هغوی دا وینا: " هیڅ شی یې نه شي بې وسې کولای" دا بیا د ربوبیت توحید دی. او د هغوی دا وینا: " چې له هغه پرته بل معبود نشته" دا بیا د الوهیت توحید دی (۴۵).

امام ابن ابي العز(ت ۷۹۲ه ۱۳۹۰م) رحمه الله د وروستۍ جملې په شرحه کې د تحقیق کوونکي په توګه وايي دغه د عبادت توحید دی: (او هغه وینا یې: " ولا اله غیره" دا هغه د توحید کلمه ده چې ټولو رسولانو بلنه ورته کړې ده[۴۶].

ابو منصور ماتریدي (ت ۳۳۳ه - ۹۴۵م) د الله تعالی د دې وینا په تفسیر کې ویلي:

﴿... مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥٓ ... ۝٥٩﴾ [الأعراف: 59]

(د الله عبادت وکړئ تاسو لره له هغه پرته بل معبود نشته). (د الاعراف سورت: ۵۹) (معنا داچې تاسو لره له هغه الله تعالی پرته بل کوم داسې معبود نشته چې الوهیت او ربوبیت یې په دلایلو، حجتونو او برهانونو ثابت شي) (۴۷). او ناصري (ت ۶۵۲هـ ۱۲۵۴م) (۴۸) دا خبره را نقل کړې او تایید کړې ده.

د استدلال ټکی: ماتریدي او بیا ناصري چې دواړه د احنافو له لویو علماوو څخه دي په ډاګه د الوهیت او ربوبیت د توحید یادونه کړې ده، لومړی یې پر دویم ور عطف کړی، چې پر دې خبره دلالت کوي چې ربوبیت له الوهیت څخه بېل شی دی. او هغه دواړه یو شی نه دي (۴۹)

شیخ محمود شکري آلوسي (ت۱۳۴۲هـ۱۹۸۲م) وایي: (د ربوبیت توحید همغه دی چې ټول کافران یې هم مني، او له بت لمانځونکو او مجوسو پرته بل هیڅوک هم له دغه اصل سره مخالفت نه کوي. او له دغو دواړو پرته نورې ټولې د کفر او شرک ډلې په دې خبره په یوه خوله دي چې د کایناتو پیداکوونکی، روزي ورکوونکی یې، د هغوی د چارو چلوونکی، هغوی ته ګټه او زیان رسوونکی او پناه ورکوونکی یو دی، له هغه پرته نه پالونکی، نه پیداکوونکی، نه روزي ورکوونکی، نه د چارو چلوونکی، نه ګټه او نه زیان رسوونکی او نه هم پناه ورکوونکی شته، لکه څنګه چې الله پاک فرمايي:

﴿وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ ...﴿٢٥﴾﴾ [لقمان: 25]

(او که له هغوی پوښتنه وکړې چې اسمانونه او ځمکه چا پیداکړي دي، هرومرو به ووایي: الله) (د لقمان سورت: ۲۵)

کله چې پر دې پوه شوې، نو دا خبره به درته په ډاګه شوې وي چې د توحید د څښتنانو او مشرکانو ترمنځ جګړه یوازې په الوهیت کې ده، او ټولو رسولانو له لومړي بیا تر وروستي پورې د الله یووالي او عبادت ته بلنه کوله (۵۰)

## څلورم بحث :لا اله الا الله د اسلام او کفر ترمنځ بېلوونکې کلمه ده.

علامه خجندي [٥١] (ت١٣٧٩ه ١٩٥٩م) رحمه الله وايي: پوه شه چې د " لا اله الا الله " کلمه د اسلام او کفر ترمنځ بېلوونکې کلمه ده، چا چې د هغې پر معنا د پوهېدو سره او پر هغې د باور له مخې وويله، نو پرته له شکه په اسلام کې دننه شو، او د دارالسلام (جنت) له خلکو څخه وګرځېد او چا چې وويل: چې له الله پرته بل پیداکوونکی نشته، له الله پرته بل روزي ورکوونکی نشته، یا له الله پرته بل پالونکی نشته، یا له الله پرته بل موجود نشته، او یا داسې نور. بیا هم هغه مسلمان ندی او د جنت له اوسېدونکو څخه ندی که څه هم دغه کلمې حق دي (٥٢)، ځکه په دغه ډول وینا کې له هغوی سره د ماده پرستو دهریانو پرته نور ټول خلک: لکه مشرکان، مجوس، نصارا، یهود او داسې نور هم شریک دي، لکه څنګه چې قرآن هم پر دغه شاهدي ورکوي، نو په دغه تحقیق سره دا خبره ثابته شوه: چې د الله له سزا څخه ژغورونکی ګټور ذکر چې دی هغه " لا اله الا الله" دی او دغه د « لا اله الا الله» کلمه هغه د اخلاص کلمه ده چې له شرک سره په ټکر کې ده، او د هغې تقوی کلمه ده چې ویونکی یې له الله سره په شرک کولو څخه ساتي. (٥٣)

او علامه علي قاري :[2]( ت ١٠٤١ ه - ١٦٠٥م) رحمه الله، د دې حقیقت په ډاګه کولو سره ویلي دي چې د اسلام یواځېنۍ کلمه "لا إله إلا الله" ده پرته له نورو څخه. [او پرته له شکه پیغمبران علیهم السلام د توحید د بیانولو او یووالي په ډاګه کولو لپاره راغلل، ځکه خو د هغوی ټولو کلمه او دلیل د « لا اله الا الله » کلمه وه او هغوی ته دا امر نه و شوی چې خپلو امتونو ته دې امر وکړي ترڅو دا کلمه ووایي: چې « الله موجود دی» بلکې د دغې خبرې په ډاګه اراده یې کړې وه چې له هغه پرته په حقه سره بل د عبادت وړ نشته، تر څو د هغوی پر وهم او خیال رد هم وشي، ځکه چې هغوی ویل:

﴿... هَـٰٓؤُلَآءِ شُفَعَـٰٓؤُنَا عِندَ ٱللَّهِ ...﴾ [یونس: 18]

---

[2] هغه علامه علي بن سلطان محمد ابوالحسن الهروي المکي، د هغو لویو حنفي امامانو څخه دی چې حدیث او فقه یې سره جمع کړي دي.

(هَؤُلاءِ شُفَعَاؤُنَا عِنْدَ اللَّهِ) [يونس : ١٨]. يعني دغه د الله په وړاندې زموږ سپارښت كوونكي دي، او

﴿... لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى ٱللَّهِ زُلۡفَىٰٓ ...﴾ [الزمر: 3]

(مَا نَعْبُدُهُمْ إِلاَّ لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَى) [الزمر : ٣] او يا موږ يوازې هغوی د دې لپاره لمانځو ترڅو مو الله ته لږ ورنېږدې كړي. (55).[3]

# درېيم څېركی :د زيارتونو والا له مړو څخه په مرسته غوښتنه كې له سمې لارې كږېدل او پر هغوی رد.

د زيارتونو والا (قبر پرست) ګومان كوي چې له مړو څخه د ستونزو په دفع كولو او ګټو او ښېګڼو په لاسته راوړلو كې مرسته غوښتل اړين دي، او له هغوی څخه د پوهې دعوی كوونكو په دې اړه زيات كتابونه ليكلي دي او له دغو كتابونو څخه ځينې (په لاندې ډول دي):

مصباح الظلام في المستغيثين بخير الأنام في اليقظة و المنام.

شواهد الحق في الاستغاثة بسيد الخلق.

أنوار الانتباه بحل النداء بيا رسول الله.

بركات الاستمداد.

تحريض الأغبياء في الاستغاثة بالأنبياء والأولياء.

نفحات القرب الاتصال بإثبات التصرف للأولياء بعد الانتقال.

[3] جهود علماء الحنفية: ١٤٧. وګوره: منح الازهر: ٧.

د قبر پرستو په مړو سره د مرستې غوښتلو له بېلګو څخه ځينې بيانوو.

لومړۍ بېلګه: چې احمد رضا خان افغاني (ت ۱۳۴۰هـ ۱۹۲۲م) چې عبد المصطفی لقب لري ذکر کړې ده: )د دغې ډلې سرادر: جنيد (ت۲۹۸هـ ۹۱۱م) د دجلې درياب ته راغی تر څو هغې غاړې ته تېر شي، نو وې ويل: اې الله، او بيا روان شو لکه پر ځمکه چې روان وي! نو يو چا وليد، او هغه هم غوښتل چې له درياب څخه تېر شي او کښتۍ يې پيدا نه کړه، نو جنيد ته يې وويل: زه هم غواړم چې له دغه درياب څخه تېر شم، اوس لاره يې څه ده؟ جنيد وويل: ووايه اې جنيده، او همدغه خبره تکراروه ترڅو تېر شې. هغه سړي وويل: اې جنيده، اې جنيده، او همداسې په درياب تېرېدی، کله چې د درياب منځته ورسېدی شيطان يې په زړه کې وسوسه واچوله. نو هغه سړي يا الله يا الله ويل پيل کړل. هغه و چې په اوبو کې په ډوبېدو شو، هغه نارې کړې او جنيد ته يې ور چېغې کړې او وې ويل اې جنابه! زه ډوب شوم. بيا جنيد ورته وويل: ووايه يا جنيد، ياجنيد. نو هغه سړي هم يا جنيد، يا جنيد ويل پيل کړل. هغه و چې له ډوبېدو وژغورل شو، او له دريابه تېر شو، بيا هغه سړي جنيد ته وويل: اې جنابه! په دې کې څه راز دی چې ته يا الله وايې، او له درياب څخه تېرېږې؟ او کله چې ما يا الله وويل: نو په ډوبېدو شوم. جنيد ورته وويل: هو، اې کم عقله! ته تر اوسه د جنيد مرتبې ته نه يې رسېدلی، او سملاسي، الله ته د رسېدلو هيله کوې. الله اکبر (56)

دويمه بېلګه: هغه ده چې نبهاني (ت ۱۳۵۰هـ ۱۹۳۱م) په داسې ويلو سره استدلال پرې کړی: (زموږ سردار محمد الحنفي قدس الله سره خپل جای نماز پر درياب وغوړولو او خپل مريد ته يې وويل: ووايه يا حنفي، او روان شه، مريد يې تر شا روان شو، د هغه په زړه کې دا خبره راوګرځېدله چې ولې يا حنفي وايي؟ ولې يا الله نه وايم. کله يې چې يا الله ويل پيل کړل هغه و چې په ډوبېدو شو. بيا شيخ حنفي تر لاس ونيوی او ورته يې وويل: ته حنفي پېژنې، نو د الله به څه حال وي؟ کله چې دې الله وپېژندی بيا يا الله وايه: په دې سره يې اشاره دې خبرې ته وه چې د هغوی تر منځ واسطه اړينه ده[4].[5]

---

[4] هغه محمد چې شمس الدين تخلص کوي او مشهور په سلطان سره دی، په فروعو کې حنفي او په عقيده کې بت پرست دی، ۸په (۸۴۷هـ ۱۴۴۳م) کې وفات شوی هغوی د غوث او قطب مرتبه ورکړې ده.

درییمه بېلګه: کومه چې امام آلوسي (ت ۱۲۷۰هـ ۱۸۵۴م) د الله تعالی د دغې ویناپه تفسیر کې ویلي دي.

﴿ثُمَّ إِذَا كَشَفَ ٱلضُّرَّ عَنكُمۡ إِذَا فَرِيقٞ مِّنكُم بِرَبِّهِمۡ يُشۡرِكُونَ ٥٤﴾ [النحل: 54]

(بیا کله چې هغه له تاسو نه تکلیف لرې کړي (، نو) ناڅاپه یوه ډله په تاسو کې له خپل رب سره شریکان جوړوي) [سورت النحل : ایت نمبر ۵۴] (او دغه آیت پردې خبره دلالت کوي چې نن سبا د ډېری عامو خلکو کړنې: لکه له الله تعالی پرته بل چاته پناه وړل، چې د هغوی لپاره د هیڅ شي اختیار نه لري، بلکې د ځان لپاره هم د ګټې او زیان واک نه لري، کله چې هغوی ته ضرر رسیږي، او د هغوی په داسې حالت کې له الله تعالی څخه مخ اړول، لویه کم عقلي او سخته لارورکي ده، خو تر پخوانۍ لار ورکۍ بیا دا سخته لارورکي ده چې د انسان بدن ترې ریږدي او آن د اصحاب خدود د کافرانو غمبوري ورته تک ژېړ اوړي، د ژمنې کړې د ورځې مؤمنان خو لا څه کوې، هغه دا چې ځینې تکلفي شیخانو راته وویل په داسې حال کې چې زه کوچنی وم: پام پام چې د ستونزې پر مهال له الله تعالی څخه مرسته ونه غواړې، ځکه الله تعالی په مرسته کولو کې بیړه نه کوي، ستا د بد حالت پروا نه کوي، بلکې باید له پخوانیو ولیانو څخه مرسته وغواړې، ځکه هغوی ستا سره په ستونزه کې په بیړه مرسته کوي، او د هغه څه په اړه اندېښمن کیږي چې پر تا راغلي دي. دا خبره مې په غوږونو، فکر او سترګو کې سخت ځای ونیوی او له الله تعالی څخه مې وغوښتل چې ما او مسلمانان له دغه ډول څرګندې بې لارۍ څخه وساتي. (۵۹)

خلورمه بېلګه: کومه چې نابلسي حنفي[۶۰] (ت ۱۱۴۳هـ ۱۷۳۱م) بیان کړې او استدلال یې پرې کړی. (مشهور کرخي [۶۱] به خپلو ملګرو ته ویل: کله چې تاسو الله تعالی ته په څه کې اړتیا لرئ، نو پر ما لوړه کوئ، پر الله تعالی لوړه مه کوئ، چې کله ورته وویل شول چې دا ولې؟ هغه وویل: دوی الله تعالی نه پېژني، نو هغه ځواب هم نه ورکوي، که چېرې هغوی پېژندلی، نو هرومرو به یې ځواب ورکړی وای) [۶۲].

---

[5] ۵۸] جهود علماء الحنفية: ۱۰۵۸. وګوره: شواهد الحق: ۴۴۷، عن لمع برق المقامات، د مصطفی کمال الدين بن عمر البكري، العوال في زيارة سيدي حسن الراعي وولده عبدالعال، نومی کتاب.

## لومړی مبحث :د قران کریم په دلیل سره پر قبر لمانځونکو رد.

او حنفي علماوو [۶۳] په قبرونو والا له کتاب الله او د رسول صلی الله علیه وسلم له سنت څخه په استدلال کولو سره رد کړی، او کوم چې د الله په کتاب کې راغلي:

الله - تعالی - فرمايي -:

﴿إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ ۝٥﴾ [الفاتحة: 5]

(مونږ خاص ستا عبادت کوو او خاص له تا نه مدد غواړو). (د الفاتحه سورت: ۵) د الله تعالی وینا ده:

﴿وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌۖ أُجِيبُ دَعۡوَةَ ٱلدَّاعِ إِذَا دَعَانِۖ فَلۡيَسۡتَجِيبُواْ لِي وَلۡيُؤۡمِنُواْ بِي لَعَلَّهُمۡ يَرۡشُدُونَ ۝١٨٦﴾ [البقرة: 186]

(او کله چې زما بندګان زما په اړه پوښتنه درڅخه کوي (ورته ووایه) پرته له شکه زه د بلونکي بلنه منم، کله مې چې رابولي، نو په کار ده چې ور ومې بولي او پر ما ایمان راوړي، کېدای شي لاره ومومي). (د البقرة سورت: ۱۸۶ ایت) او الله تعالی فرمايلي:

﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدۡعُونِيٓ أَسۡتَجِبۡ لَكُمۡۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَسۡتَكۡبِرُونَ عَنۡ عِبَادَتِي سَيَدۡخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ ۝٦٠﴾ [غافر: 60]

(او ستاسو پالونکي ووېل: ما وبولئ، زه ستاسو لپاره (ستاسو دعاء) قبلوم، پرته له شکه هغه کسان چې زما له عبادت څخه لویي کوي، ژر به د تل لپاره دوزخ ته ننوځي). (د غافر سورت: ۶۰). او الله تعالی فرمايلي:

﴿وَمَن يَدۡعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ لَا بُرۡهَٰنَ لَهُۥ بِهِۦ فَإِنَّمَا حِسَابُهُۥ عِندَ رَبِّهِۦٓۚ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلۡكَٰفِرُونَ ۝١١٧﴾ [المؤمنون: 117]

(او څوک چې له الله سره بل داسې څوک رابولي چې پر هغه کوم دلیل نه وي ورسره، نو د هغه حساب به د هغه د پالونکي سره وي، او بېشکه کافران نه بریالي کیږي). (د المؤمنون سورت: ۱۱۷) او الله تعالی فرمایلي:

﴿وَمَن يَدۡعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ لَا بُرۡهَٰنَ لَهُۥ بِهِۦ فَإِنَّمَا حِسَابُهُۥ عِندَ رَبِّهِۦٓۚ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلۡكَٰفِرُونَ ۝١١٧﴾ [المؤمنون: 117]

(او څوک چې له الله سره بل داسې څوک رابولي چې پر هغه کوم دلیل نه وي ورسره، نو د هغه حساب به د هغه د پالونکي سره وي، او بېشکه کافران نه بریالي کیږي). (د المؤمنون سورت: ۱۱۷) او الله تعالی د هغه چا لپاره وايي چې بل څوک رابولي:

﴿إِن تَدۡعُوهُمۡ لَا يَسۡمَعُواْ دُعَآءَكُمۡ وَلَوۡ سَمِعُواْ مَا ٱسۡتَجَابُواْ لَكُمۡۖ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يَكۡفُرُونَ بِشِرۡكِكُمۡۚ وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثۡلُ خَبِيرٖ ۝١٤﴾ [فاطر: 14]

(که تاسو هغوی رابولئ، هغوی مو بلنه نه اوري، او که واوري، تاسو ته ځواب نه شي درکولای، او د قیامت په ورځ به ستاسو له شرک څخه نټه کوي او د ښه خبر لرونکي غوندې به دې څوک خبر نه کړي). (د فاطر سورت: ۱۴) او الله تعالی فرمايي:

(وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلَّهِ فَلا تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَداً)

(او پرته له شکه جوماتونه د الله لپاره دي، نو له الله سره بل هیڅوک مه رابولئ). (د الجن سورت: ۱۸) او الله تعالی فرمايي:

﴿فَلَا تَدۡعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَتَكُونَ مِنَ ٱلۡمُعَذَّبِينَ ۝٢١٣﴾ [الشعراء: 213]

(نو له الله سره بل څوک مه رابولئ، چې له عذاب ځکونکو څخه به شئ). (د الشعر سورت: ۲۱۳) او الله تعالی فرمايي:

﴿لَهُۥ دَعۡوَةُ ٱلۡحَقِّۚ وَٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ لَا يَسۡتَجِيبُونَ لَهُم بِشَيۡءٍ إِلَّا كَبَٰسِطِ كَفَّيۡهِ إِلَى ٱلۡمَآءِ لِيَبۡلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ بِبَٰلِغِهِۦۚ وَمَا دُعَآءُ ٱلۡكَٰفِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَٰلٖ۝١٤﴾ [الرعد: 14]

(خاص هغه ته د حق بلنه ده او هغه (معبودان) چې دوی یې له هغه نه پرته بلي؛ هغه د دوی هېڅ دعا نشي قبلولی مګر په شان د هغه کس چې اوبو ته خپل دواړه ورغوي (لاسونه) غځوونکی وي، د دې لپاره چې هغه د ده خولې ته راورسي، حال دا چې دغه (اوبه خولې د) ده ته رسېدونکې ندي او د کافرانو دعا نده مګر ببخي په لار ورکی کې ده). (د الرعد سورت: ۱۴)

## دويم مبحث :د نبوي احاديثو په استدلال سره پر قبر لمانځونکو رد.

او کوم احادیث شریف چې په پاکو سنتو کې راغلي چې یوازې یو الله ته د بلنې په ځانګړي کولو ټینګار کوي، چې حنفي علماوو په دغه اړه پر قبرونو والا رد کړی او له هغو ځینې یې دا دي:

د رسول الله صلی الله علیه وسلم وینا ده: (دعاء عبادت دی) [۶۴].

او له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: (کله چې د شپې وروستۍ دریېمه برخه پاتې وي زمونږ پالونکی چې مبارک او لوړ دی د دنیا اسمان ته را کوزیږي، وایي: څوک شته چې بولي مې او دعاء یې قبوله کړم، څوک را څخه غواړي چې ور یې کړم، څوک بښنه را څخه غواړي چې ویې بښم. [۶۵].

د عبد الله بن مسعود درضي الله عنه څخه روایت دی هغه فرمایي: یو سړي وویل: ای د الله تعالی پېغمبره! د الله تعالی په نزد کومه ګناه ډېره لویه ده؟ هغه وفرمایل: دا چې د الله تعالی سره شریک راوبولې او حال دا چې هغه الله تعالی ته پیداکړی یې) [۶۶].

او له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه فرمایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: **(په الله مرسته وغواړه او مه یې وسه کېږه)** [۶۷].

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی، هغه وایي: زه یوه ورځ د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر شا وم نو هغه وفرمایل: **(اې هلکه! زه یو څو کلمې دربښایم، الله په یاد لره، ساتنه به دې کوي، الله په یاد لره، مخې ته به دې ومومې، کله چې څه غواړې، له الله یې غواړه او کله چې مرسته غواړې، نو پر الله مرسته غواړه.)** حنفي

علماوو په دغه حديث شريف سره د قبرونو والا د عقيدې پر بطلان او د هغوی لخوا له الله پرته له بل چا څخه د مرستې د غوښتلو پر بطلان استدلال کړی دی [۶۸].

او له جابر بن سليم څخه روايت دی، هغه وايي: ما وويل: او ته د الله رسول؟ هغه وفرمايل: زه د هغه الله رسول يم چې کله ضرر درته ورسيږي، ته هغه را وبولې، درڅخه لېرې کوي يې، او که وچکالي درته ورسيږي، ته هغه را وبولې، دربانديې را واپس کوي يې (ستا د دعا په برکت شينګياوې درته راټوکوي). [۶۹].

د سلمان فارسي رضي الله عنه روايت کړی حديث، چې د نبي صلی الله عليه وسلم وينا ده: **(پرته له شکه ستاسو پالونکی د حيا او سخاوت څښتن دی، له خپل بنده څخه حيا کوي، کله چې هغه خپل لاسونه ورته پورته کړي؛ نو خالي يې نه ور ردوي)** .[۷۰]

## دريم مبحث :د حنفي علماو لخوا پر زيارتونو والا له خپلو مړو څخه د مرستې غوښتلو په اړه رد.

سربېره پر دې چې کوم څه د الله په کتاب او د هغه د رسول صلی الله عليه وسلم په سنتو کې راغلي دي، حنفي علماوو په خپلو ويناوو سره هم پر زيارتونو او قبرونو والا رد کړی او له هغو علماوو څخه ځينې يې په لاندې ډول دي:

امام اعظم ابو حنيفه (۱۵۰هـ ۷۶۷م) فرمايلي: (د هيچا لپاره په کار نده چې الله تعالی د هغه له خپل ذات پرته په بله کومه لار را وبولي، او دا يې بد ګڼلي چې څوک ووايي: زه ستا څخه ستا د عرش په عزت دعا غواړم، او دا يې هم بد ګڼلي چې څوک ووايي: ستا د نبيانو او رسولانو په حق او بيت حرام په حق دعاء غواړم) [۷۱].

او امام قدوري [۷۲] (ت ۴۲۸هـ ۱۰۳۷م) له امام بشر بن الوليد (ت ۲۳۸هـ ۸۵۲م) څخه روايت کوي: چې هغه وويل: ما له ابو يوسف (ت ۱۸۲هـ ۷۹۸م) څخه واورېدل، هغه ويل: ابوحنيفه وايي: «د هيچا لپاره په کار ندي چې الله د هغه له خپل ذات پرته په بل څه راوبولي...» د هغه وينا يې ټوله په خپل هغه کتاب کې ذکر کړه چې پر هغه سره يې د امام کرخي (۳۴۰هـ ۹۵۱م) د مختصر شرحه کړې ده [۷۳].

او د امام قدوري لخوا، د امام کرخي د مختصر لپاره د شرحې څخه ډېرى لويو حنفي علماوو دا خبره را نقل کړې ده او پر هغې يې د قبرونو والا د عقيدې پر بطلان استدلال کړى دى، چې هغوى د ستونزو پر مهال له مړو څخه مرسته غواړي، او هغوى دا خبره ثابته کړې ده چې قبرونو والا د الله له شريعت څخه مخالف دي، لکه څنګه چې هغوى په عقيده کې د دغه امت له امامانو څخه مخالف دي، په ځانګړي ډول له حنفي علماوو سره، په دغه مقاله او وينا سره د قبرونو والا ټولې شبهې او شکوک له منځه يوړل شول چې له الله پرته له نورو مرسته غواړي، او د هغوى ټول ګمانونه يې له بېخه واېستل چې د باطل توسل په اړه يې لرل [۷۴].

او امام حصکفي [۷۵] (ت۱۰۸۸هـ ۱۶۷۷م) د امام ابوحنيفه وينا په نورو ټکو روارې ده، کومه يې چې له امام ابو يوسف څخه روايت کړې ده چې هغه ويل: (د هيچا لپاره په کار نده چې الله د هغه له ذات پرته په بله کومه لار راوبولي، د کومې دعا چې اجازه ورکړل شوې او امر پرې شوى دى: هغه ده چې د الله له دغې وينا څخه اخېستل شوې: «د الله لپاره ښکلي نومونه دي؛ نو پر هغو يې را وبولئ» د الاعراف سورت: ۱۸۰ ايت. او دا وينا يې بده ګڼلې ده چې: ستا د رسولانو، نبيانو او وليانو په حق او يا د بيت الله په حق.) [۷۶].

او امام ابن عابدين الشامي (۱۲۵۲هـ ۱۸۳۶م) د امام ابوحنيفه د دغې وينا « الا به» په شرحه کې وايي: معنا دا چې يوازې د هغه په خپل ذات، صفتونو او نومونو سره[۷۷].

علامه رستمي د هغه پيروي کړې، د هغه وينا يې نقل کړې او هغه يې تاييد کړې ده، بيا يې لومړى پر عامو قبرونو والا او همدارنګه بيا د احنافو د قبرونو پر والا رد کړى دى: (نو له دغې وينا (د ابوحنيفه له وينا) څخه په ډاګه شوه چې په دعاوو کې اسمي توسل يوازې د الله تعالى په نومونو او صفتونو کې منحصر دى) [۷۸].

او امام ابوجعفر الطحاوي وايي: (الله تعالى دعاوې قبلوي، اړتياوې پوره کوي، د هر څه څښتن دى او هيڅوک د هغه څښتن ندى، او د سترګو د رپ په اندازه له الله څخه څوک بې نيازه کېداى نه شي، او څوک چې د سترګو د رپ په اندازه له الله څخه بې پروا شي هغه کافر کيږي او له دهريانو څخه ګرځي) [۷۹].

او او امام مفسر محمود الوسي ویلي: په دې اړه تحقیقي وینا داده: چې له مخلوق څخه مرسته غوښتل، او هغه داسې یوه وسیله ګرځول چې د هغو له لارې دعاء وغوښتل شي، د دې په جواز کې هیڅ شک نشته که چېرې هغه مطلوب ژوندی وي، او که مطلوب مړ وي یا غائب وي، نو بیا هیڅ عالم په دې کې شک نه لري چې هغه وسیله جوړول روا ندي، او دا د هغو بدعتونو له ډلې څخه دي، چې له پخوانیو نېکانو څخه هیچا هم ندي کړي، او له صحابه وو څخه له هیچا هم ثابت نه دي، سره لدې چې هغوی د ښېګڼې په لټه کې ترټولو زیات حریص وو، چې له مړي یې یو څه خیر غوښتی وای[۸۰].

او امام فتني (ت ۹۸۶هـ ۱۵۷۸م)، چې له لویو هغو حنفي امامانو څخه و، کومو چې پر قبرونو والا رد کړی دی، هغه وایي: (او ځینې هغه خلک دي چې د نبیانو او نېکانو له قبرونو څخه یې موخه: دا وي چې د هغوی له قبرونو سره لمونځ وکړي، د هغوی په وړاندې دعاء وکړي او خپلې اړتیاوې ترې وغواړي، دا روا ندي، ځکه دا عبادت دی، او عبادت، د اړتیاوو غوښتنه او مرسته غوښتل یوازې د یو الله حق دی) [۸۱]. او امام برکوي (ت۹۸۱هـ ۱۵۷۳م) او امام احمد الرومي (ت ۱۰۴۳هـ ۱۶۳۳م)، او علامه خجندي (ت ۱۳۹۷هـ ۱۹۷۷م) دا ټول د قبرونو والا له رازونو او شرکي مرستې غوښتنې څخه په پرده پورته کولو سره وایي همدا وایي، او دغه را روان الفاظ د لومړي دي: (بدعتي زیارت دا دی: چې د قبرونو زیارت هلته د لمانځه لپاره وي، یا پر هغو د طواف په موخه وي، یا د هغوی د ښکلولو او استلام (بیت الله شریف ته د سلام کولو غوندې) وي یا د هغو پر خاورو د مخ موښلو لپاره وي، یا د هغو د خاورو راخېستلو لپاره او په هغو کې د پرتو مړو د رابللو لپاره وي، له هغوی د مرستې غوښتلو لپاره وي، له هغوی څخه د بریا، روزۍ، روغتیا، اولاد، د پورونو د اداکولو، له ستونزو څخه د خلاصېدو لپاره وي، په کړاو کې د راګیر شخص سره د مرستې په موخه او یا داسې نورو هغو اړتیاوو څخه وي چې بت لمانځونکو به له خپلو بتانو څخه غوښتلې، دغه ټول د دین د ټولو امامانو په یوه خوله ناروا دي، ځکه له رسول الله صلی الله علیه وسلم او له صحابه وو، تابعینو او د دین له ټولو امامانو څخه هیچا هم ندي کړي، بلکې د دغه ډول بدعتي او شرکي زیارت اصل د بتانو له عبادت څخه اخېستل شوی دی) [۸۲].

او شیخ ابو الحسن ندوي [۸۳] (ت ۱۴۲۰هـ - ۱۹۹۹م)، د دې خبرې په بیانولو سره وایي چې د قبرونو له مړو څخه په مرسته غوښتلو سره شرک ډېر عام او زیات شو: (په

خلکو کې د ناپوهۍ او شرک د فتنې خطر: پوه شه چې شرک په دغه زمانه کې په خلکو کې خپور او زیات شو او توحید بیخي نابلده شی وګرځېده.).

د شرک نښې او کارونه:

د شرک له کړنو څخه یو دا هم دي چې زیات شمېر خلک نن سبا له مشایخو، نبیانو، امامانو، شهیدانو، پرېښتو او پېریانو څخه د ستونزو پر مهال مرسته غواړي، چې هغوی په نومونو رابولي، د هغوی په نومونو چېغې وهي او له هغوی څخه خپلې اړتیاوې او د موخو پوره کېدل غواړي [۸۴].

او علامه محمود شکري آلوسي (ت ۱۳۴۲هـ ۱۹۲۴م) رحمه الله وايي: (د شریعت، فطرت او عقل له پلوه ناشونې ده: چې دغه پاک بشپړ شریعت او له دغه پرته بل شریعت دې د ستونزو پر مهال د مړو او غایبو خلکو رابلل روا بللي وي، یا یې دې د کړاوونو او سختیو په وخت کې له هغوی مرسته غوښتل روا کړي وي، لکه د نصراني وینا: «اې د مسیح مورې مورړ ته د الله په وړاندې سپارښتنه وکړه» او یا دا چې « اې عیسی! فلانی شی راکړه» او یا دا چې « پر ما دا وکړه» یا د کوم قبرونو والا دا وینا: « اې علي، او اې حسینه، او یا اې عباسه! او یا اې عبدالقارده!، او اې عیدروسه! او یا اې بدوي! او یا فلانیه، او دېته ورته نورې هغه شرکي کلمې چې له الله تعالی سره د یو د څه د برابروالي او یو شان ته کولو ته شاملې وي، د دغه ډول خبرو روا والی هیڅکله نه شریعت او نه کوم رسالت ورکوي، بلکې دا د څرګند هغه شرک له ځانګو څخه دي چې د تلپاتې دوزخ ته د ننوتلو او بښونکي برلاسي الله د قهر لامل کیږي. [۸۵].

## څلورم څپرکی :د قبرونو والا د نېکانو او ولیانو په حق کې غلو )زیادت (څخه کار اخېستل او پر هغوی رد.

په دین کې غلو( زیادت) له پېریو څخه د قبرونو والا له اعمالو څخه دي، هغوی د قرآن کریم او پاکو سنتو سره ټکر وېناوې او کړنې کړې دي. او پرته له شکه د نېکانو او

ولیانو په حق کې د قبرونو والا یو شمېر زیادتونه کړي دي، چې پر هغو سره د لوی شرک او د اسلام له ملت څخه وتلو ته ور اوښتي دي. او د نېکانو په اړه د زیادت له بېلګو يې:

## لومړی بحث :د رسول صلی الله علیه وسلم په حق کې د قبرونو والا غلو او زیادت.

او د غلو او زیادت تر ټولو زيات ډولونه چې زموږ د نبي صلی الله علیه وسلم په حق کې خپاره شوي دي. ځينې يې ګومان کوي چې دا د مصطفی صلی الله علیه وسلم سره مینه ده، هغوی د الله تعالی وينا یا هېره کړې ده او یا يې ځانونه داسې اچولي دي:

﴿قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِى يُحْبِبْكُمُ ٱللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ۗ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣١﴾﴾ [آل عمران: 31]

(ووایه: که تاسو له الله سره محبت لرئ؛ نو زما پیروي وکړئ، الله به درسره محبت وکړي، ګناهونه به مو دروبښي او الله بښونکی مهربان دی). (د آل عمران سورت: ۳۱ ایت). نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم محبت د هغه په پیروی او د هغه ثه په منلو کې دی چې په کتاب او سنتو کې راغلي دي، په هغه څه کې ندی چې شیطان او د هغه ډله يې ورته ښايي. او زموږ د نبي صلی الله علیه وسلم په حق کې د غلو او زيادت له بېلګو څخه دا هم دي:

لومړی ډول: د رسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره پر غیبو پوهېدل يو زیادت دی.

د قبرونو والا ګمان کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم پر ټولو هغه څه پوهيږي چې په لوح محفوظ کې دي. او ټول هغه څه چې قلم ليکلي دي.او تر ټولو لومړی دغه خرافات د قبرونو والا تر منځ په مشهوره قصيدة البردة کې بوصيري[۸۶] (ت ۶۹۴هـ ۱۲۹۵م) وويل:

ځکه ستا له سخا څخه دنیا او اخرت دي او ستا له علومو څخه د لوح او قلم علم دی (۸۷).

ځینو یې ویلي: د رسول الله صلی الله علیه وسلم له روح څخه هیڅ شی هم نه دي پټ، هغه یې پر عرش، پر پورته او ښکته، پر دنیا او آخرت یې، پر اور او جنت یې خبر دی، پوهه یې پر ټولو پټو ملکوتي معلوماتو چاپېره ده (۸۸).

دویم ډول: د رسول الله صلی الله علیه وسلم لخوا په نړۍ کې د تصرف په اړه غلو (زیادت)

قبرونو لمانځني ته بلونکي باور لري چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په نړۍ کې تصرف کوي.

او د دوی د ویناګانو څخه دادي: (پرته له شکه د ټولو کایناتو کونجیاني د رسول الله صلی الله علیه وسلم په لاس کې دي، او هغه د هرڅه څښتن دی، او د ځواکمن ذات تر ټولو لوی ځای ناستی دی، او همغه دی چې د «کن (شه)» کلمه په واک کې لري [۸۹].

دریم ډول: د رسول الله صلی الله علیه وسلم د برزخي ژوند په اړه غلو.

د قبرونو والا له ګمانونو څخه دا هم دی، چې هغوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره د برزخي ژوند څخه منکر دي او هغوی ګمان کوي چې د هغه په قبر کې ژوند، همدغه دنیوي ژوند دی او هغه په قبر کې لمونځ کوي.

نانوتوي (۱۲۹۷هـ ۱۸۸۰م) او نورو لویو دیوبندیانو، لکه ګهنګوي، چې د هغوی ترمنځ په امام رباني سره نومول شوی (ت۱۳۲۳هـ ۱۹۰۵م)، کشمیري، چې د هغوی ترمنځ په امام رباني سره نومول شوی (۱۳۵۲هـ۱۹۳۳م)، تهانوي چې د هغوی ترمنځ په حکیم امت سره نومول شوی (۱۳۶۲هـ ۱۹۴۳م)، عثماني (۱۳۶۹هـ ۱۹۵۰م)، حسین احمد چې د هغوی ترمنځ په شیخ الاسلام نومول شوی (۱۳۷۷هـ ۱۹۵۸م) هغوی ټولو ویلي دي: (چې پرته له شکه نبي صلی الله علیه وسلم په خپل قبر کې اوس هم ژوندی دی، هغه داسې دی لکه یو څوک چې له خلکو بېل شي او څلوېښت ورځې اعتکاف وکړي، هغه همداسې په مستمر دنیوي ژوند له عنصري جسد سره ژوندی دی، ژوندی یې حقیقي جسماني دی روحاني ندی، بلکې هغه حسي جسماني دی، او له همدې امله یې میراث نه وېشل کیږي، له مېرمنو سره یې نکاح نه کیږي، ځکه چې هغه ژوندی دی، نو د ژوندیو د میراث وېشل څه معنا نه لري، او هغه په خپل قبر کې په اذان او اقامت سره لمونځ کوي[۹۰].

## دويم بحث :په ځانګړي ډول د ولیانو په حق کې غلو.

د قبرونو والا د ولیانو په حق کې دومره غلو کړې چې خبره تردې رسېدلې چې هغوی یې له الله سره په ربوبیت کې شریک کړي دي، او د قریشو پر کافرانو هم ور اوښتي دي. ځکه د قریشو کافرانو الله په ربوبیت کې یو بللو، خو په الوهیت کې یې شرک کولو، مګر د قبرونو والا، له الله سره په ربوبیت او الوهیت دواړو کې شرک کوي.

شیخ عبدالقادر جیلاني (۵۶۱هـ ۱۱۶۶م) د قادریه امام دی.

احمد الرفاعي (۵۷۸هـ ۱۱۸۲م) د رفاعیه امام دی.

د بدویه امام احمد البدوي (۶۷۵هـ ۱۲۷۶م) دی.

د نقشبندیه امام شاه نقشبند حنفي (۷۹۱هـ ۱۳۸۹م) دی.

لومړی: د قادریه د امام، عبدالقادر جیلاني[۹۱] (ت۵۶۱هـ ۱۱۶۶م) په حق کې غلو.

د قبرونو والا باور لري چې جیلاني په ربوبیت له داسې وړتیاوو څخه برخمن دی چې د الله له ربوبیت سره برابر دي او د هغوی له شرکي بلنو څخه د جیلاني په اړه د هغوی دا وینا ده: (اې زما مرستندویه، همدا ته ژوندی کوونکی او مړ کوونکی یې. او دا چې د « کن» او «لاتکن» مرتبه لومړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته حاصله ده او بیا جیلاني ته چې په کایناتو کې تصرف کوونکی دی، او د هغه لپاره د هر څه اجازه شوې ده، خپلواکه دی د کایناتو چلوونکی دی) [۹۲].

دویم: د رفاعیه د امام، احمد الرفاعي [۹۳](ت ۵۷۸هـ ۱۱۸۲م) په حق کې غلو.

قبرونو والا د رفاعي په اړه غلو وکړه، داسې کړنې یې هغه ته منسوبې کړې چې هغه ترې بېزاره و. او له هغو ویناوو څخه یې: (چې هغه په ځمکه کې د بزرګانو بزرګ دی، بیا اسمان ته ولاړی بیا اوه اسمانونه د هغه په پښه کې لکه د پای زېب غوندې وګرځېدل).

هغوی دا هم وایي: (هغه څوک یې وزله او شتمن کوي، نېک بخته او بد بخته کوي، مړه او ژوندي کوي یې، او اوه اسمانونه د هغه په پښه کې لکه پای زېب غوندې دي) .[۹۴]

دریېیم: د بدویه په امام، احمد البدوي[۹۵] (۶۷۵هـ ۱۲۷۶م) په اړه غلو.

د احمد بدوي شخصیت تر ټولو ناوړه خرافاتو او پر اسلامي امت تر ټولو خطرناکو تورنو کې شمېرل کیږي، داسې چې له هغه يې داسې پالونکی جوړ کړی چې په نړۍ کې تصرف کوونکی دی. او تر ټولو بد لا هغه څوک دی چې له خرافیانو څخه یو چا هغه دومره سپېڅلی بللی چې شعراني [۹۶] (ت۹۷۳هـ ۱۵۶۶م) دعوه کوي چې هغه د بدوي د پیدایښت په ورځ کې د ګډون په اړه وايي: (هر کال د هغه د پیدایښت په ورځ کې له ګډون څخه زما موخه دا ده: چې زما شیخ د الله عارف محمد شناوي رضي الله عنه چې د هغه رحمه الله د کورنۍ یو غړی دی، له ما څخه په هغه ګنبده کې یوه ژمنه واخېسته کومه چې زما سردار بدوي رضي الله عنه ته مخامخ ده او زه يې په خپل لاس هغه ته ور وسپارلم، چې د هغه لاس مبارک له قبره راووتلو او زما لاس يې ونیولو. او شناوي وویل: اې زما بدوي سرداره! هغه (شعراني) دې ستا په زړه کې وي، او تر خپل نظر لاندې يې ونیسه، شعراني وايي: چې د خپل سردار احمد بدوي (رضي الله عنه) له قبره مې اواز واریدی چې وايي: سمه ده). او همدارنګه وايي: (بیا مې بل ځل بدوي په مصر کې ولیدی، بیا مې له دې وروسته بیا ولیدی چې زه يې د طنطا سیمې خواته په قحافة نومي پول ودرولم، نو هغه مې یو ډول چاپېر دېوال غوندې وموندلو او ما ته يې وویل: همدلته ودرېږه، چاته دې چې زړه وي ماته يې را پرېږده او چاته دې چې زړه وي منع کوه يې) [۹۷].

څلورم: د نقشبندیه امام شاه نقشبند بخاري [۹۸](ت۷۹۱هـ ۱۳۸۹م) په اړه غلو.

د ماوراء النهر په سیمو خراسان، ترک، روم، افغانستان او هند کې نقشبندیان او د هغوی نوې فرعې ډېرې خورې ورې دي: لکه دیوبندیان، تبلیغیان، پنجپیریان او داسې نور. او د قبرونو والا نقشبندیانو د دغه سړي په اړه هم ډېره غلو کړې تردې چې هغه يې د پالونکي درجې ته رسولی دی.

او تر ټولو بد چې د هغه په اړه ویل کیږي، چې هغوی وايي: (هغه غوث اعظم (تر ټولو لوی مرستندوی)، غوث الخلیفه، قطب الحقیقة او غوث السبحاني دی. هغه مړه کول او را ژوندي کول کوي. که يې غوښتي وای غر يې سره زر ګرځولی شو. که لستونی وخوځوي د بخارا ټول خلک لویان او کوچنیان به حیران او پرېشان شي او کورونه او دکانونه به پرېږدي) [۹۹].

## دریېم بحث :د عامو ولیانو په اړه غلو

د قبرونو والا له هغو دعواوو څخه چې الله کوم څه ندي پرې نازل کړي دا هم ده چې هغوی ګومان کوي چې د الله دوستان د ربوبیت او الوهیت ځانګړنې لري، نو هغوی ګومان کوي چې قطب او غوث په لوح محفوظ کې ګوري او پر هغو پنځه ګونو کارونو پوهیږي کوم چې الله په خپل کتاب کې بیان کړي؛ د قیامت ورځ، د باران د وریدو وخت، د میندو په رحمونو کې چې څه دي، د یوچا د مرګ نېټه او دا چې چېرې به مړ کیږي.

او د دوی د ویناګانو څخه دادي چې: (ولیان لوح محفوظ ویني).

پرته له شکه د الله دوستان د الله تعالی ماشومان دي، چې هغوی پر پټو او ښکاره وو پوهیږي.

بېشکه د الله دوستانو ته د هغو پټو علوم ښکاره کیږي کوم چې و او کوم چې کیږي او همدارنګه ټول د لوح محفوظ علوم، او هغوی په تلپاتې ژوند سره په قبرونو کې ژوندي دي، د هغوی پوهه او ادراک ډېر پیاوړي دي او د هغوی اوریدل او لیدل له هغو هم ډېر ځواکمن دي کوم یې چې په دنیا کې وو. (١٠٠)

څلورم بحث: د حنفي علماوو هڅې د قبرونو والا په رد او د هغوی د غلو او زیادت په ابطال کې.

پرته له شکه حنفي علماوو د قبرونو والا د باطلو کړنو رد کړی، د هغوی دعوې یې له منځه وړې دي او د هغوی پر خلاف یې دلایل وړاندې کړي دي. کله د قرآن کریم له آیتونو څخه په استدلال کولو سره او کله هم بیا د پاکو سنتو څخه په احادیثو سره، بیا پر خپلو هغو ویناوو استدلال کوي چې پر کتاب او سنتو یې بنسټ ایښی دی. له دغو ردونو څخه.

په قرآن کریم استدلال

الله - تعالی - فرمايي -:

﴿يَـٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَـٰبِ لَا تَغۡلُواْ فِي دِينِكُمۡ وَلَا تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡحَقَّۚ إِنَّمَا ٱلۡمَسِيحُ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ رَسُولُ ٱللَّهِ وَكَلِمَتُهُۥٓ أَلۡقَىٰهَآ إِلَىٰ مَرۡيَمَ وَرُوحٞ مِّنۡهُۖ ...﴾ [النساء: 171]

(اې د کتاب څښتنانو! په دين کې نو غلو مه کوئ او پر الله له حق پرته بل څه مه وايئ، پرته له شکه مسيح عيسی د مريم زوی، د الله استازی او د هغه داسې کلمه ده چې مريم ته يې ورکړه او د هغه له لوري روح دی). (د النساء سورت: ۱۷۱) او الله - تعالی - فرمايي -:

﴿قُلۡ يَـٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَـٰبِ لَا تَغۡلُواْ فِي دِينِكُمۡ غَيۡرَ ٱلۡحَقِّ وَلَا تَتَّبِعُوٓاْ أَهۡوَآءَ قَوۡمٖ قَدۡ ضَلُّواْ مِن قَبۡلُ وَأَضَلُّواْ كَثِيرٗا وَضَلُّواْ عَن سَوَآءِ ٱلسَّبِيلِ ٧٧﴾ [المائدة: 77]

(ووايه: اې د کتاب څښتنانو! په دين کې مو پرته له حقه غلو او زيادت مه کوئ، او د هغه قوم د نفسي غوښتنو پيروي مه کوئ چې مخکې لار ورکی شوی دی او زيات خلک يې لار ورکي کړي او د سمې لارې څخه لار ورکي دي.ته (ورته) ووايه: ای اهلِ کتابو! تاسو په خپل دين کې ناحقه زياتی مه کوئ او د هغه قوم د خواهشاتو پيروي مه کوئ چې له دې نه مخکې ګمراه شوي دي او هغوی ډېر خلق ګمراه کړي دي او له نېغې لارې نه بې لارې شوي دي). (د المائده سوت: ۷۷). زمخشري (ت۵۳۸هـ ۱۱۴۴م) نسفي (ت۷۱۰هـ ۱۳۱۰م) عمادي (ت۹۸۲هـ ۱۵۷۴م) او آلوسي (ت ۱۱۷۰هـ ۱۷۵۷م) دا ټول وايي او دا خبره د وروستي يو ده: (په دين کې مو غلو (زيادت) مه کوئ: معنا دا چې له بريده مه اوړئ، دغه منع د نصاراو لپاره وه چې هغوی يې له دې څخه منع کړل تر څو عيسی عليه الصلاة والسلام د رسالت له رتبې څخه هغه څه ته پورته نه کړي کوم چې د هغه په اړه تاسو د درناوي خبرې کوئ، او همدارنګه د هغه مور د رېښتينې مېرمنې له رتبې څخه چې د هغې عليها السلام نسبت ورته کوئ او دا نهي د يهودو لپاره ده که چېرې هغوی په خطاب کې داخل وي، چې هغوی دې عيسی عليه السلام له خپل وصف څخه نه پورته کوي، او همدارنګه د امت لپاره ده چې د هغې لوړې مرتبې څخه يې دې هغې باطلې بدې وينا ته نه منسوبوي چې هغوی پسې تړلې ده، د هغوی د کتاب د څښتنانو په صفت ذکر کول د دې لپاره دي چې هغوی ايمان راوړي چې د هغوی په کتاب کې هغه څه دي چې په خپل دين کې يې له زيادت څخه منع کوي. (۱۰۱).

له پاکو سنتو څخه استدلال.

حنفي علماوو په احاديثو شريفو هم په دين کې له زيادت څخه د ډډه کولو په اړه استدلال کړی دی: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: ځانونه په دين کې له زيادت څخه وساتئ، ځکه له تاسو مخکې خلک په دين کې د زيادت له امله تباه شول.(۱۰۲)

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: **(زما په ستاينه کې له بريده مه اوړئ لکه نصاراوو چې د مريمې زوی له بريده زيات وستايلو، بېشکه زه يو بنده يم؛ نو ووايئ: د الله بنده او د هغه رسول)** [۱۰۳].

په دين کې د زيادت د ابطال په اړه د حنفي علماوو څرگندونې.

حنفي علماوو، د قبروونو والا شا نيولې او په دين کې د هغوی زيادت يې په پياوړو ويناوو او بشپړو ردونو سره باطل کړی. چې له ځينو به يې يادونه وکړو.

امام محمود آلوسي (ت۱۱۷۰هـ ۱۷۵۴م)، او د هغه په پيروۍ د هغه زوی نعمان آلوسي (ت ۱۳۱۷هـ ۱۸۹۹م)، او د هغه لمسي شکري الآلوسي (ت ۱۳۴۲هـ ۱۹۲۴م) او شيخ غلام الله چې د احنافو ترمنځ په شيخ القرآن مشهور دی، علامه رباطي او علامه رستمي وايي: د الله تعالی په دغه وينا کې « پرته له شکه هغه کسان چې تاسو يې له الله پرته رابولئ هيڅکله يې مچ هم ندی پيداکړی» (الحج:۷۳) دا اشاره ده د الله د دوستانو په حق کې د زيادت کوونکو ملامتيا ته چې هغوی په سختيو کې له الله تعالی څخه بې پروا د الله له دوستانو مرسته غواړي او د هغوی لپاره نذرونه مني، او ډېری يې له هغوی ليدلي چې د وليانو د قبرونو پر چوکاټونو سجدې کوي، او ځينې خو د هغوی لپاره په قبرونو کې يې په ټولو چارو کې تصرف ثابتوي، او کله چې دليل ترې وغوښتل شي وايي: دا په کشف ثابته ده، الله دې دوی ووهي. څومره ناپوهان او زيات تور تړونکي دي او دا ټول باطل دي چې هيڅ اصل نه په کتاب او نه په سنتو او نه هم د امت د پخوانيو په کلام کې لري، او دغو خو د خلکو دين ور خراب کړ، او د منسوخه دينونو يهودو، نصاراوو او د دهري ډلگيو د څښتنانو لپاره د خندا وړ گرځېدلي، له الله تعالی څخه ښېنه او سلامتيا غواړو. (۱۰۴)

او علامه شکري آلوسي (ت ۱۳۴۲هـ ۱۹۲۴م) ويلي: (که چېرې په دې سره په درناوي کې د مبالغې اراده شوې وي چې هرڅوک د خپلې رايې پر بنسټ د يو چا درناوي کوي، تردې چې د هغه د قبر اراده کوي، هغه لره سجده کوي، طواف پرې کوي او دا

عقیده لري، چې هغه په پټو پوهیږي، هغه هرڅه ورکوي، او څوک چې ورځخه مرسته غواړي د هغه لپاره د ګټې او تاوان واک لري، او د غوښتونکو اړتیاوې پوره کوي، او د کړاوځپلو کړاوونه له منځه وړي، او چاته چې وغواړي سپارښتنه یې کوي او چاته چې وغواړي جنت ته یې ننباسي - نو په دغه درناوي کې د مبالغې دعوی په شرک او له ټول دین څخه د پوستکي په ایستلو کې مبالغه ده.(۱۰۵)

او علامه خجندي (ت ۱۳۷۹هـ ۱۹۵۹م) وايي: (پرته له شکه د بني آدم پر خلاف له پخوا او تر اوسه د شیطان تر ټولو لوی چل په هغوی کې د نیکانو د درناوي او د هغوی د احترام په چوکاټ کې د شرک داخلول دي چې نوم یې په توسل، سپارښتنه او داسې نورو سره بدلوي، مشرک به مشرک وي هغه که غواړي او که نه غواړي.او له شرک څخه دا هم دي چې له الله پرته له بل چا څخه مرسته وغوښتل شي او یا بل څوک را وبلل شي، نو تر هغه چا زیات لار ورکی نشته چې له الله پرته بل څوک رابولي، او پرته له شکه دا خبره هم ثابته ده چې د بني آدم د ډېریو د کفر او د خپل دین د پرېښودلو لامل د نیکانو په اړه زیادت کول دي، او په خپلو رابللو سره د هغوی د سپارښتونکو په توګه نیول او د هغوی د خوښې لټول او هغوی ته پناه وړل دي، په داسې حال کې چې هغوی مړه دي او له دغو ژوندیو څخه یو مخ بې خبره دي، نه توانیږي او نه اوري هغه څه چې هغوی یې ترېِ غواړي او اراده یې لري.(۱۰۶)

د حنفي علماوو څرګندونې د قبرونو والا د هغې عقیدې د ابطال په اړه چې د مړو ژوند، دنیوي ژوند دی.

د قبرونو والا د باطلو عقیدو په شا نیولو او له منځه وړلو کې د حنفي علماوو لوېې هڅې دي، او له دغو هڅو څخه یو هم د قبرونو والا د هغې عقیدې د ابطال په اړه دي چې ګواکې د مړو ژوند، دنیوي ژوند دی.

امام نسفي (ت۷۱۰هـ ۱۳۱۰م) د الله تعالی د هغې وینا:

﴿وَلَا تَقُولُواْ لِمَن يُقْتَلُ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمْوَٰتُۢ ۚ بَلْ أَحْيَآءٌ وَلَٰكِن لَّا تَشْعُرُونَ﴿١٥٤﴾﴾ [البقرة: 154]

« بلکې هغوی ژوندي دي خو تاسو نه پرې پوهېږئ» البقرة: ۱۵۴: په تفسیر کې وايي: (تاسو پردغه نه پوهېږئ، ځکه د شهید ژوند په حسي ډول نه معلومیږي) (۱۰۷)

امام ابوالسعود العمادي (ت۹۸۲هـ ۱۵۷۴م) وايي: (خو تاسو د هغوی پر ژوند نه پوهېږئ، پدې کې اشاره دېته ده چې هغه یو داسې جسماني ژوند نه دی چې ظاهري حواس يې احساس کړای شي، هغه یو روحاني امر دی چې په عقل نه احساسیږي، بلکې په وحي معلومیږي.(۱۰۸).

او امام ابومنصور الماتریدي (ت ۳۳۳هـ ۹۴۵م) وايي: پرته له شکه د شهیدانو ارواوې په غیب کې دي.(۱۰۹)

او د احنافو د بغداد مفتي امام آلوسي (ت۱۱۷۰هـ ۱۷۵۷م) وايي: (معنا دا چې تاسو نه په حواسو د هغوی پر حال پوهېږئ او نه يې درک کولای شئ، ځکه هغه د برزخ له هغه حالتونو څخه دی چې پرې خبرېدل ناشوني دي، او پر هغو د خبرېدو یوازېنۍ لار وحي ده. او ارواوې که څه هم داسې جوهرونه دي چې قائم بالنفس دي مګر له هغه څه بېل دي چې له بدنه حس کیږي، خو له هغه برزخي بدن چې د دغه کثیف بدن څخه جلا شی دی له هغو سره يې د تړاو له لرلو پر وړاندې کوم خنډ هم نشته. (۱۱۰)

د حنفي علماوو څرګندونې د قبرونو والا د هغې عقیدې د ابطال په اړه چې مړي له هغوی څخه د مرسته غوښتونکو اوازونه اوري.

حنفي علماوو، د قبرونو والا هغه دعواوې باطلې ثابتې کړې چې هغوی وايي ګواکې له مړو څخه چې څوک د کړاوونو پر مهال مرسته غواړي؛ نو هغوی يې اوازونه اوري.

شیخ ګهنګوي (ت۱۳۲۳هـ ۱۹۰۵م) وايي: د مړو له اورېدو څخه د نټه کوونکو استدلال چې له هغوی څخه عائشه، ابن عباس رضي الله عنهم او امام ابوحنیفه هم دي د الله تعالی پر دغه وینا دی: «پرته له شکه ته مړي ته نه شې اورولای» ځکه کله چې کافران له مړو سره په نه اورېدو کې ورته شول، نو څرګنده شوه چې مړي نه اوري، که نه بیا دغه ورته والی ناسم دی. (۱۱۱)

امام نسفي (ت۷۱۰هـ ۱۳۱۰م) د دغه ایت په تفسیر کې د «الصم» کلمه په دې سره مقیدوي، چې کله هغوی شاوې وګرځوي وايي: که ته وواېې: چې ګونګی نه اوري هغه که

مخامخ وي او که يې شا وي، نو بيا د دغه تخصيص ګټه څه ده؟ زه وايم: د دغه ګونګي چې کله مخ وي، نو په رمز او اشاره پوهيږي، خو کله چې مخ واړوي او شا يې شوه بيا نه اوري او نه په اشاره پوهيږي. (۱۱۲).

شيخ محمد حسين نيلوي، او محمد امير بنديالي چې دواړه د احنافو له معاصرو علماوو څخه دي او توري د لومړي دي د الله تعالی د هغې وينا په تفسير کې وايي:

﴿أَوْ كَالَّذِي مَرَّ عَلَىٰ قَرْيَةٍ وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا قَالَ أَنَّىٰ يُحْيِي هَٰذِهِ اللَّهُ بَعْدَ مَوْتِهَا ۖ فَأَمَاتَهُ اللَّهُ مِائَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهُ ۖ قَالَ كَمْ لَبِثْتَ ۖ قَالَ لَبِثْتُ يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ۖ قَالَ بَل لَّبِثْتَ مِائَةَ عَامٍ ... ﴿٢٥٩﴾﴾ [البقرة: 259]

(او يا لکه هغه کس چې پر يو داسی کلي تېر شو. چې پرېوتي و (دېوالونه يې) پربامونو يې، ويې ويل: الله به دا پس له دغې مړينې څرنګه را ژوندی کوي؟ نو الله هغه په سل کاله مرګ مړ کړ او بيايې راپورته کړ، ورته ويې ويل: څومره وځنډېدې؟ ويې ويل: يوه ورځ به ځنډېدلی وم يا د ورځې څه برخه! ويې فرمايل: نه، ته سل کاله ځنډېدلی يې.) (د البقرة سورت: ۲۵۹) (پرته له شکه ته پر دې خبره پوه شوې چې عزير په دغه اوږده موده کې پر هيڅ هم پوه نه شو، نه يې لمر وليدی چې راختيژي او ډوبيږي، نه کومه مانۍ، نه ستوری او نه وربځ، نه يې باران احساس کړ او نه يې د تندر اواز واورېدی او نه داسې نور وېرووونکي اوازونه، نه يې د ورځې تګ احساس کړ او نه د شپو تيارې، نه يې ګرمي احساس کړه او نه سخت يخ. که موږ د هغه د شعور او احساس خبره وکړو، نو درواغ لازميږي.(۱۱۳)

# پنځم څپرکی :پر قبرونو د ودانيو جوړلو بدعت او د هغو شا نيول.

پر قبرونو د ودانيو جوړول تر ټولو خطرناک بدعت ګڼل کيږي چې ډېر شمېر مسلمانان يې له خالص توحيد څخه ګرځولي دي او د لوی شرک په لوري يې ور وړي دي، هغوی بيا که پر دې خبره پوهيږي او که نه پرې پوهيږي. له همدې امله د مسلمانانو علماوو د دغه لوی خطر شا نيولې او له هغو يې خلک وېرولي دي. چې د هغوی له ډلې د زمانو په تېرېدو کې حنفي علماء هم دي. په دغه څپرکي کې به ډېر ژر پر قبرونو د ودانيو

جوړولو په اړه د قبرونو والا عقیده بیان شي او بیا به په دې اړه د حنفي علماوو هڅې د هغوی شا یې نیولې ده.

## لومړی بحث :پر قبرونو د ودانیو جوړولو په اړه د قبرونو والا د عقیدې وړاندې کول.

د قبرونو والا بلونکي باور لري چې پر قبرونو د ودانیو جوړول روا دي، د دغه د رواوالي په اړه یې کتابونه او رسالې لیکلي دي او د دغو لار ورکو له ډلې څخه ځینې یې:

سمنودي د (۱۳۲۶هـ -۱۹۰۸م څخه وروسته) پدې لفظ سره یوه سر مقاله ولېکله: (د څلورو مذهبونو څخه په قبرونو د ودانیو جوړولو دلیلونه)(۱۱۴).

عراقي حسن العاملي (ت ۱۳۷۱هـ - ۱۹۵۲م) نهم څېرکی اضافی کړی او داسې یې ویلي: (نهم څپرکی: د قبرونو په جوړولو او په هغې باندې د ودانیو جوړول او د هغې چونه کول، او په هغو باندې دپاسه ګنبدې جوړول او هغې لپاره د صندوق کېښودل او هغه ته د پردې اغوستلو بیان کې) (۱۱۵).

کوثري (ت ۱۳۷۱هـ ۱۹۵۲م) یوه مقاله د « بناء مساجد على القبور والصلاة اليها» تر سرلیک لاندې ولیکله. (۱۱۶)

بنوري (ت ۱۳۹۷هـ ۱۹۷۷م) د کوثري د مقالاتو لپاره یوه مقدمه لري چې د کوثري په ستاینه کې یې زیاته مبالغه کړې او د مسلمانانو پر هغو علماوو یې برید کړی چې خالص توحید خپروي، چې د ابن خزیمه پر کتاب التوحید او د عبدالله بن امام احمد پر السنة نومي کتاب یې برید کړی، او الدارمي پر بشر المریسي رد کړی او د هغه کتابونه یې د بت لمانځنې کتابونه شمېرلي دي، لکه څنګه چې په مشهور متل کې ویل شوي دي، زه یې د هغو پر ناروغۍ تورن کړم او هغه په خپله ترې ووتله. معنا دا چې په خپله د بت لمانځنې بلنه کوي بیا د مسلمانانو پر علماوو د بت لمانځنې تور لګوي. (۱۱۷)

کوثري د الأبي[۱۱۸] د وینا په رانقلولو سره چې هغه پر قبرونو د جوماتونو او ګنبدو جوړلو د رواوالي لپاره تاییدوي، وايي: (څوک چې د نېک سړي ترڅنګ جومات جوړوي او یا یې له قبر سره د هغو له آثارو څخه د برکت حاصلولو لپاره لمونځ کوي او یا هلته دعاء کوي په دې کې کومه ستونزه نشته.(۱۱۹)

کوثري د نابلسي حنفي قبرونو والا (ت ۱۱۴۳ھ ۱۷۳۱م) پر وينا په استدلال کولو سره د قبرونو څخه د جوماتونو جوړولو او همدارنګه پر هغو د جوماتونو جوړولو د رواوالي په اړه په ښکاره د هغوی دواړو لخوا د قبرونو بوت لمانځنې ته د بلنې په توګه وايي: (او څوک چې د نېک سړي ترڅنګ جومات جوړوي او يا يې په قبر کې لمونځ کوي او پر هغه يو ډول د استظهار اراده ولري او يا د هغه د عبادت له آثارو څخه کوم اثر ته رسېدل وغواړي چې د هغه د درناوي[۱۲۰] او يا يو مخ د هغه لپاره نه وي، نو په دې کې کومه ستونزه نشته. (۱۲۱).

او احمد بن محمد الغماري[۱۲۲] (ت۱۳۸۰ھ ۱۹۶۰م) په ښکاره بوت لمانځنې ته د بلونکي په توګه په يو پيغام کې وايي: چې رساله يې په (احياء المقبور من ادلة استحباب بناء المساجد والقباب على القبور) نومولې ده.(۱۲۳)

## دويم بحث :د حنفي علماوو لخوا له صحيحو احاديثو څخه استدلال چې پر قبرونو د ودانيو جوړولو او د هغو د ورانولو وجوب په اړه پکې وېره راغلې ده.

او الله تعالی د دغو بدعتونو او د خلکو د لار ورکولو د مخنيوي لپاره د مسلمانانو علماء ځانګړي کړي دي، چې د هغوی ترمنځ حنفي علما هم دي، او د هغوی له هڅو ځينې يې په لاندې ډول دي:

### لومړی حديث

له عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په هغه ناروغۍ کې چې ترې وفات شو وفرمايل: **(الله پر يهودو او نصاراوو لعنت کړی چې د خپلو نبيانو قبرونه يې جوماتونه وګرځول)**، عائشه رضي الله عنها وايي: که چېرې دا خبره نه وای، مسلمانانو به د نبي صلى الله عليه وسلم قبر ښکاره **(لوړ کړی) وای، خو له دې وېرې دا کار ونه شو چې جومات ترې جوړ نه کړل شي)** (۱۲۴).

او حنفي علماوو پر دې خبره هم استدلال کړی چې پر قبرونو د ودانيو جوړول او د قبرونو څخه جوماتونه جوړول د الله تعالی د لعنت له لويو لاملونو څخه دي، او پر الله د شرک کولو لوی سبب دی او دا چې دا د يهودو او نصاراو له کړنو څخه دي.(۱۲۵).

### دویم حدیث

د عائشي رضي الله عنها مرفوع حدیث دی (دوی داسې قوم دی کله چې کوم نېک بنده پکې مړ شي، یا نېک سړی، نو پر قبر یې جومات جوړ کړي او د هغه انځورونه په هغو کې انځور کړي، همدوی د الله پر وړاندې ترټولو بد خلک دي. (۱۲۶).

### درېیم حدیث

له جندب بن عبدالله البجلي رضي الله عنه څخه روایت دی: هغه وايي: **(ما له نبي کريم** صلی الله علیه وسلم **څخه پنځه ورځې مخکې تردې واورېدل چې هغه وفات شي): (خبر اوسئ ځوک چې له تاسو مخکې وو هغوی به د خپلو نبیانو له قبرونو څخه جوماتونه جوړول، خبر اوسئ قبرونه جوماتونه مه ګرځوئ، پرته له شکه زه تاسې له دغه کار څخه منع کوم)** (۱۲۷). یو شمېر حنفي علماوو له دغه حدیث څخه استدلال کړی. (۱۲۸).

### څلورم حدیث

له جابر بن عبد الله رضي الله عنه څخه روایت دی هغه فرمايي: **(رسول الله** صلی الله علیه وسلم **له دې څخه منع کړې چې قبر دې چونه کړل شي، پر هغو دې ځوک کښېني او یا پر هغو ودانۍ جوړه کړل شي)** [۱۲۹]. او په یو روایت کې دي: (چې پر هغو دې لیکل وکړل شي) [۱۳۰].

### پنځم حدیث

ابوالهیاج حیان بن حصین الاسدي الکوفي وايي: ماته علي بن ابي طالب - رضي الله عنه - وویل: ( آیا زه تا د هغه کار لپاره ونه لېږم د کوم کار لپاره چې زه رسول الله صلی الله علیه وسلم لیږلی وم: **(هغه دا چې هره مجسمه دې چې لیدله له منځه یې وړه، هر لوړ قبر دې چې لیدلو هواره یې کړه)** [۱۳۱].

له دغه صحیح حدیث څخه زیات شمېر حنفي علماوو پر قبرونو د جوماتونو او ګنبدو جوړولو پر ناروا والي استدلال کړی دی، او همدارنګه د هغو جوماتونو او ګنبدو د ورانولو پر وجوب چې پر قبرونو جوړ شوي دي. (۱۳۲)

## دریيم بحث :د حنفي علماوو هڅې پر قبرونو د ودانیو له جوړولو څخه د منع کولو او د هغو د ورانولو په اړه.

حنفي علماوو پر قبرونو د ودانیو له جوړولو، د هغو د چونه کولو او پر هغو د څراغونو روښانه کولو څخه د منعې په اړه زیاتې هڅې کړې دي، واکمنان او مخور يې د هغو د ورانولو اړتیا او تر هغو اړوند ټولو بدعتونو له منځه وړلو ته هڅولي دي، څکه هغه د عامو خلکو د عقیدو لپاره لوی خطرونه لري. او له دغو علماوو څخه.

امام برکوي (ت۹۸۱هـ ۱۵۷۳م) او امام احمد الرومي (ت ۱۰۴۳هـ ۱۶۳۳م)، امام ولي الله دهلوي (۱۱۷۶هـ ۱۷۶۳م)، شیخ سبحان بخش هندي، شیخ ابراهیم سورتي، شیخ محمد مظفري او علامه رباطي وايي:

او له همدې امله نبي صلی الله علیه وسلم له قبرونو د جوماتونو جوړلو منع کړې او دا چې پر هغو دې جوماتونه او گنبدې جوړې کړل شي، او پر ترسره کوونکي يې لعنت ویلی دی، او دا خبره يې بیان کړې چې دا د ورانکارو لعنت کړل شوو یهودو او نصاراوو له کړنو څخه دي، او نبي صلی الله علیه وسلم خپل امت، په خپله هغه ناروغۍ کې د یهودو، نصاراوو او عامو مشرکانو له کړنو څخه وېرولی دی، چې له هغې پورته نه شو، چې صحابه - رضي الله عنهم - د هغه صلی الله علیه وسلم پر سپارښتنه عمل وکړ، هغوی خوندي پاتې شول او د هغه صلی الله علیه وسلم قبر مبارک يې پورته نه کړ، له دې وېرې چې جومات ترې جوړ نه کړل شي، او داسې بوت ونه گرځول شي چې له الله پرته لمانځل کیږي، په دې اړه يې یو شمېر حدیثونه راوړي بیا يې ویلي: اوعامو ډلو پر قبرونو د جوماتونو جوړولو او پر هغو د لمونځ کولو منع په ښکاره بیان کړې، چې دا د هغوی لخوا د څرگندو سنتو پیروي ده، احمد، مالک او شافعي د دغه کار ناروااوالی په څرگندو ټکو بیان کړی او چا چې مکروه ورته ویلي د هغوی موخه هم مکروه تحریمي ده، څکه دا هیڅ عقل نه مني چې په تواتر سره د یو کار منع له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه راغلې وي او پر هغو لعنت ویل شوی وي، هغه دې یوازې مکروه وي او حرام دې نه وي!.

او فقهاوو د دغه ناروااوالی په ښکاره بیان کړی، که چېرې پر قبرونو د څراغونو روښانه کول روا وی، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به يې پر ترسره کوونکي لعنت نه وای ویلی، سره له دې چې لعنت يې پرې ویلی دی، څکه په دې کار سره په بې گټې کار کې مال

له منځ وړل دي، او په دې د قبرونو په درناوي کې له بریده اوښتل دي، او په دې کې له بوت لمانځونکو سره ورته والی دی، بیا د نبي صلى الله عليه وسلم پر قبرونو د ودانیو له جوړولو څخه منع هغه جوړښت ته هم شامله ده چې له ډبرو وي او یا له هغه څه څخه وي چې د ډبرو ځای ناستی وي، لکه څنګه چې هغه نهي پر قبر خېمې وهلو ته شامله ده، دغه دواړه د جاهلیت له کارونو څخه دي، ځکه خو نبي صلى الله عليه وسلم د کتاب پر څښتنانو لعنت ویلی، د هغوی لخوا د خپلو نبیانو د قبرونو د جوماتونو په توګه د نیولو له امله.

دغه د قبرونو والا ګمان کوي چې د مړو پر قبرونو لمونځ د هغو درناوی دی، خو دا ښکاره شرک دی، او هغوی ګمان کوي د لمانځه پر مهال د هغوی قبرونو ته مخ کول دا د الله تعالى په وړاندې یو فرصت دی، او دا هغه لامل دی چې له امله یې شارع پر قبرونو د جوماتونو له جوړولو څخه منع کړې ده، هغه څه چې ډېری امتونه یې په لوی شرک او یا کوچني شرک کې اخته کړل، ځکه د داسې سړي پر قبر شرک کول چې د سمون باور پرې کیږي دا ډېر زړونو ته نېږدې دی تر هغه شرک چې په ونه او ډبره کیږي، ځکه خو موږ ډېری خلک وینو چې له قبرونو سره داسې له زړونو څخه عاجزي، زاري، تواضع او عبادت کوي چې د الله تعالى په جوماتونو او په سهار وخت کې یې نه کوي، ځینو خو هغو ته سجده هم کوي، او ډېری خو بیا له هغوی سره د لمانځه له برکته د هغه څه هیله کوي چې په جوماتونو کې د لمانځه څخه هغه هیله نه لري.(۱۳۳).

امام ابن ابي العز(ت ۷۹۲هـ ۱۳۹۰م) رحمه الله پر قبرونو د جوماتونو او ګنبدو د جوړولو د نارواوالي لپاره یوشمېر احادیث راوړي دي، او دا چې دغه کار د الله د لعنت او له رحمت څخه د لېرې کېدو لامل کیږي، او دا چې دغه د لومړنیو کافرانو یهودو، نصاراوو او نورو مشرکانو له کړنو څخه دی، او له الله جل جلاله سره د شریک نیول له اسبابو څخه دی، او دا چې پر قبرونو د جوړو شوو ودانیو ورانولو ته بیړه او تیزي کول واجب دي. (۱۳۴).

او امام محمود آلوسي (ت ۱۲۷۰هـ ۱۸۵۴م) په بغداد کې د احنافو مفتي پر قبرونو د ګنبدو او جوماتونو د جوړولو د نارواوالي او د هغو د ورانولو اړوند یوشمېر احادیث راوړي دي، او دا چې د الله تعالى د لعنت لامل کیږي، او د پخوانیو کافرانو له کړنو څخه دي، او دا پر الله د شرک کولو له اسبابو څخه دی او له لویو او تباه کوونکو او هلاکوونکو

ګناهونو څخه دی، د قبرونو لوري ته یا پر هغو سربېره لمونځ کول او یا پر هغو برکت حاصلول دا ټول له ناروا لویو ګناهونو څخه دي.

بیا يې ویلي دي: له قبر سره له دې امله لمونځ کول چې برکت پرې ترلاسه کړي له الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم سره جنګ کول او د داسې دین رامنځته کول دي چې الله جل جلاله يې اجازه نه ده ورکړې، ځکه هلته د ټولو په اجماع منع ترې راغلې، د هغو له منځه وړل او پر قبرونو د جوړو شوو ګنبدو ورانول واجب دي، دا له ضرار جوماتو څخه زیات ضررناک دي، ځکه هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سرغړونې پر بنسټ جوړې کړل شوې دي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له دغه کار څخه منع کړې ده او د لوړو قبرونو په ورانولو يې امر کړی دی، او پر قبر د هرې ډیوې او څراغ له منځه وړل واجب دي، او د هغو وقف او نذر سم نه دی.(۱۳۵).

## څلورم بحث :د حنفي علماوو لخوا د قبرونو والا د ځینو هغو شبهاتو ابطال چې پر قبرونو د ودانیو په اړه دي

د قبرونو والا پر قبرونو د جوماتونو او ګنبدو په جوړولو کې حرص کړی او هڅه يې کړې چې شرعي دلیلونه داسې تابع کړي ترڅو د هغوی د نفسي غوښتنو سره سمون ومومي، او شبهات سره راغونډ کړي ترڅو عام خلک پرې لار ورکي کړي. او د الله - تعالی - له پېرزوینې څخه ده چې امت ته يې داسې درانه علما ور په برخه کړي چې د دغو شبهاتو مخه نیسي او پر دغو دلیلونو د استدلال کولو تېروتنه په ګوته کوي.

### لومړۍ شبه :د قبرونو والا ګمان کوي چې په ودانیو جوړولو کې ناروالی هغه مهال وي چې پر قبرونو له پاسه وي.

په احادیثو کې چې کومه منع او نهي راغلې هغه پر قبرونو سربېره د جوماتونو له جوړولو او چراغونو له روښانه کولو څخه راغلې، خو که د قبر ترڅنګ وي بیا پروا نه کوي.

### پر دغه شبهې رد

حنفي علماوو داسې ځواب ورکړی چې د (على) کلمه هغه پورته ته هم شامله ده او ښکته ته هم لکه څنګه چې د الله په کتاب او سنتو په دلايلو کې راغلې او له هغو څخه (۱۳۶):

الله - تعالى - فرمايي -:

﴿أَوۡ كَٱلَّذِي مَرَّ عَلَىٰ قَرۡيَةٖ وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا ... ٢٥٩﴾ [البقرة: 259]

(او يا د هغه چا په شان چې پر يو کلي تېرېدی په داسې حال کې چې هغه يې پر چتونو را لوېدلی و) (د البقرة سوررت: ۲۵۹)

د دغه معنا دا نده چې دغه سړی د هغه کلي پر دېوالونو سرېيره تېر شو

او الله تعالى فرمايي:

﴿... وَلَا تَقُمۡ عَلَىٰ قَبۡرِهِۦٓۖ ...٨٤﴾ [التوبة: 84]

(د هغه پر قبر مه درېږه) د التوبة: سورت: ۸۴. نو آيا د آيت معنا د نبي صلى الله عليه وسلم نهي او منع ده د منافقانو پر قبرونو له درېدلو څخه، نه هغه قيام چې د هغه په ښکته کې وي؟!.

او کوم څه چې په پاکو سنتو کې دي چې د الاسراء او المعراج په اړه په حديث کې راغلي: زه ادم عليه السلام ته راوستل شوم...او بيا ابراهيم ته رواستل شوم، او بيا موسى ته راوستل شوم. نو ايا دا عقل مني چې د دغو جملو معناوې دې دا وي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم راوستل شو او بيا د نبيانو عليهم الصلام و السلام پر سرونوتېر شو؟

لنډه دا: چې دغه شبه له سره باطله ده. او نهې دغو ټولو صورتونو ته شامله ده، او د اعمالو دارمدار په نيتونو پورې دی.

## دویمه شبهه :د قبرونو والا د الله تعالی پر دغه وینا استدلال) :هغو کسانو چې هغوی پر کار برلاسي شوي وو، وویل :هرومرو به یو عبادت ځای پرې جوړوو .( ]سورت الکهف :ایت ۲۱[

هغوی وايي: منعا يې داده: چې موږ به هرومرو د کهف غار پر دروازه یو جومات جوړوو چې په هغو کې مسلمانان لمونځ کوي او پر هغه ځای به برکت ترلاسه کوي، چې دغه د جواز دلیل دی.

## پر دغه شبهې رد

حنفي علماوو له دغې شبهې څخه داسې ځواب ورکړی چې دغه ایت پردې خبره دلالت نه کوي چې دغه کار د یو ګڼونکو مسلمانانو داسې کار و چې له نبیانو علیهم الصلاة والسلام څخه په پیروۍ يې ترسره کړی وي. بلکې ښکاري داسې چې دغه خلک مشرکان وو چې دغه جومات يې هم د خپل عبادت لمانځنې د عادت له مخې جوړ کړ.او له نبیانو څخه د هیڅ نبي شریعت پر قبرونو د جوماتونو او ګنبدو د جوړولو پر جواز نه دی راغلی. او که د فرض محال په توګه ومنل شي: چې دغه کار په مخکېنیو شریعتونو کې روا و، نو ځواب يې دادی: چې مخکېني شریعتونه زموږ په دغه شریعت کې حجت نه دي مګر دا چې زموږ شریعت د هغو تایید وکړي او ويې مني. او زموږ شریعت په ډاګه ویلي دي چې دغه کار د هغو یهودو او نصاراوو کار دی چې الله پر هغوی لعنت ویلی دی، په دغه ډول کړنو سره چې هغه د بوت لمانځنې او له الله سره د شریک نیولو دروازې وي په هغو کې هیڅ ډول دلیل پر دغه خبره نشته. (۱۳۷).

## دریيمه شبهه :د قبرونو والا ګومان کوي چې د نبیانو او ولیانو پر قبرونو جوماتونه او ګنبدې جوړول داسې یو کار دی چې د اسلامي امت میراث دی.

په ختیځ او لوېدیځ کې له پخوانیو څخه وروستنیو ته پاتې دی. دا پردې معنا چې امت د هغه پر جواز اجماع لري.

## پر دغه شبهې رد

حنفي علماوو له دغې شبهې څخه داسې ځواب ورکړی چې دغه کار د امت د اجماع له ډلې څخه نه دی، بلکې دغه له ناوړه بدعتونو او هغو بدو عادتونو څخه دی چې له

بدعتیانو په میراث پاتې دی. او ګڼ شمېر احنافو په څرګنده ویلي دي چې دغه میراث یو ناوړه کار دی چې په اړه یې هیڅ حجت نشته، ځکه د ناپوهو عوامو له کړنو څخه دی. او ویلي یې دي: که ته ووایې: دا یوه فعلي اجماع ده؛ نو دا یو حجت شو لکه څنګه یې چې په ښکاره ویلي دي. زه وایم: دا د منلو نه ده.ځکه دا خبره خوندي نده، آن تردې چې ځینې علماء یې منع کوي، او که فرض کړل شي چې هغه فعلي اجماع ده، نو دا د امت د سمون لپاره چې پر ښو کارونو د امر او له بدو کارونو منع پکې نافذیږي او حال دا چې دغه څه له ډېرو زمانو څخه له منځه تللي دي. (۱۳۸).

## خلورمه شبهه :د قبرونو والا لخوا په هغې ګنبدې پسې خپل دا کار تړل کومه چې چې د نبي صلی الله علیه وسلم او دواړو صاحبینو رضي الله عنهما پر قبرونو جوړه شوې ده.

همدارنګه شیطان هغوی ته دغه قیاس مع الفارق په زړونو کې ور واچوو.

## پر دغه شبهې رد

حنفي علماوو له دغې شبهې څخه په دوو لارو ځواب ویلی دی:

لومړۍ لاره: د نبي صلی الله علیه وسلم پر قبر ودانۍ جوړول، پر قبرونو د ودانیو جوړولو له ډلې څخه ندي. ځکه دغه ودانۍ مخکې تردې شتون درلود چې هلته دې لاندې نبي صلی الله علیه وسلم پکې خښ کړل شي، ځکه هغه د عائشې رضي الله عنها حجره وه، او نبي صلی الله علیه وسلم له کورونو څخه یو کور و، چې په اتفاقي ډول نبي صلی الله علیه وسلم د عائشې رضي الله عنها په کور کې وفات شو او په همدغه حجره کې دفن کړل شو، د هغه حدیث پر بنسټ چې په دې اړه راغلی دی، له عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی: **(کله چې رسول الله** صلی الله علیه وسلم **وفات شو، د خلکو ترمنځ د هغه د دفن په اړه اختلاف پیدا شو، چې ابوبکر وویل: له رسول الله** صلی الله علیه وسلم **څخه مې یو څه اورېدلي چې هیڅ مې نه دي هېر شوي، هغه ویلي: (الله د هیڅ نبي روح نه اخلي مګر په هغه ځای کې چې خوښوي هغلته دې دفن هم کړل شي)، نو همدلته د خپلې بسترې په ځای کې یې دفن کړئ)**، چې د عائشې رضي الله عنها په حجره کې یې دفن کړ، نو دغه ودانۍ د نبي صلی الله علیه وسلم پر قبر د ودانۍ جوړولو په نیت

نه وه، ځکه دا مخکې هم وه، خو د ابوبکر او عمر رضي الله عنهما هلته دفن کېدل، هغه بيا په دغه ځای کې د نبي صلى الله عليه وسلم د دفن کېدو د تابع او پیروۍ له مخې و.

دويمه وجهه: ګنبد د نبي صلى الله عليه وسلم پر قبر د صحابه رضي الله عنهم اجمعين په زمانه کې نه وه، نه د تابعينو په زمانه کې وه او نه هم تبع تابعينو په زمانه کې، نه د سنتو د امامانو په زمانه کې، د دغه امت د غوره زمانو څخه د هيچا په زمانه کې نه وه.

علامه خجندي (ت١٣٧٩هـ ١٩٥٩م) د نبي صلى الله عليه وسلم پر قبر د دغې شنې ګنبدې د جوړېدو د تاريخ په بيانولو سره وايي چې هغه يو بدعت دی. د نبي صلى الله عليه وسلم پر مبارک قبر د شنې ګنبدې پيل: پوه شه چې تر کال (٦٧٨هـ ١٢٧٩م) پورې پر هغې نبوي حجره په کومه کې چې د نبي صلى الله عليه وسلم قبر دی، کومه ګنبده نه وه، دغه کار په همدغه کال کې ظاهر منصور قلاوون صالحي پاچا وکړ، چې دغه ګنبده جوړه کړل شوه.دا کار يې ځکه وکړ چې هغه په مصر او شام کې د نصاراوو ښايسته کړل شوي عبادت ځايونه وليدل، نو د نبي صلى الله عليه وسلم پر امر او سنتو د ناپوهۍ له امله يې د هغوی پيروي وکړه.پوه شه پرته له شکه د قلاوون پاچا دغه کار په قطعي ډول له هغو صحيحو احاديثو سره په ټکر کې و چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه ثابت دي، خو ناپوهي يوه لويه بلا ده، او په محبت او درناوي کې له بريده اوښتل يوه ستره بلا ده او له پرديو څخه پيروي يوه تباه کوونکې ناروغي ده (١٣٩).

# پای:

د الله تعالی په پېرزوینه - د «جهود علماء الحنفية في ابطال عقيدة القبورية» نومې رساله په هر اړخیز ډول معرفي شوه، چې د دوکتورا د رسالې په بڼه ښاغلي شیخ دکتور شمس الدین سلفي افغاني رحمه الله وړاندې کړې.

بنسټیز تعریفونه: توحید، عبادت او شرک.

د ربوبیت او الوهیت د توحید ترمنځ توپیر

د قبرونو والا له مړو څخه په مرسته غوښتلو سره له سمې لارې اوښتل او پر هغوی رد.

د قبرونو والا د نېکانو او ولیانو په حق کې له بریده اوښتل او پر هغوی رد.

پر قبرونو د ودانیو جوړولو بدعت او د هغو تعقیب.

# الفهرست

حنفیان توحید خېروي. ........................................................................ 1
سریزه:......................................................................................... 3
لومړی څپرکی :بنسټیز تعریفونه :توحید )یووالی (عبادت او شرک ........................... 4
دویم څپرکی :د ربوبیت او الوهیت توحیدونو تر منځه توپیر: ................................. 12
درېیم څپرکی :د زیارتونو والا له مړو څخه په مرسته غوښتنه کې له سمې لارې کږېدل او پر هغوی رد.......................................................................... 19
څلورم څپرکی :د قبرونو والا د نېکانو او ولیانو په حق کې غلو )زیادت (څخه کار اخېستل او پر هغوی رد................................................................... 28
پنځم څپرکی :پر قبرونو د ودانیو جوړلو بدعت او د هغو شا نیول. ........................ 38
پای: ........................................................................................... 49

موسوعة القرآن الكريم
QuranEnc.com
موسوعة تضم تفاسير وتراجم موثوقة لمعاني القرآن الكريم

موسوعة الأحاديث النبوية
HadeethEnc.com
موسوعة تضم ترجمات للأحاديث النبوية وشروحها بعدة لغات

موسوعة المصطلحات الإسلامية
TerminologyEnc.com
موسوعة تضم ترجمات المصطلحات الإسلامية وشروحها بعدة لغات

منتقى المحتوى الإسلامي
موسوعة تضم المنتقى من المحتوى الإسلامي باللغات

IslamHouse.com
مرجعية مجانية إلكترونية موثوقة للتعريف بالإسلام

ننشر الإسلام بأكثر من 100 لغة

جمعية الدعوة وتوعية الجاليات بالربوة

جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات